# په کتابونو ایمان

## معنی،

## دلایل

## او غوښتنې ئې

حکمتیار

# پر کتابونو ایمان

# معنی،

# دلائل

# او غوښتني ئې

بسم الله الرحمن الرحیم

# د ناشر مقدمه

د الله تعالی د پېرزوینو ممنون یو چې موږ ته ئې د یوه بل ښکلي کتاب د خپرولو توفیق راکړ، دا کتاب د هغو درسونو د لړۍ یوه برخه ده چې ورور حکمتیار د اردوی سپاهیان رضاکار اسلام (اسرا) په تربیتي غونډو کې رضاکارانو ته درلودل او په ۱۳۶۹هـ ش کال کې د کتابونو په بڼه کې ترتیب او چاپ شول، د ځینو عربو ورونو په غوښتنه؛ په عربي ترجمه او په کافي شمېر کې چاپ شول، دا کتاب موږ ته ښيي چې رښتینی ایمان کوم دئ او غوښتني ئې څه دي؟ په څه څه به ایمان لرو؟ د ایمان حقیقي معنی څه ده او الله تعالی کوم ایمان او د چا ایمان قبلوي؟ د دې درسونو دا لړۍ د لاندي پنځو کتابونو په بڼې کې خپره شوې:

- پر الله تعالی ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.
- پر آخرت ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.
- پر پیغمبرانو ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.
- پر کتابونو ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.
- پر ملائکو او قضاء او قدر ایمان، معنی، دلائل او غوښتني ئې.

د دغو اساسي مسائلو اهمیت ته په پام سره مو دا غوره وګڼله چې یو ځل بیا ئې خپل خدای پال او په دین مین ولس ته وړاندي کړو، دا ځل ټول یو ځای او په یوه مجلد کې خپروو، دا باید واضح کړو چې په نوې طبع کې ځیني ګټور او ضروري مطالب اضافه شوي، هغو باایمان ځوانانو ته چې د غربي استعمار د فکري یرغل په ضد ئې د مبارزې سنګر تود ساتلی او غواړي د ایمان په حقیقت پوه شي، نورو ته

ئي وښيي، خپل فردي او اجتماعي ژوند د ایمان په رڼا کې او د خپل رب د لارښوونو مطابق تنظيم کړي، او په آزاد او خپلواك افغانستان کې د اسلام پرتمين بيرغ رپانده وګوري، د دې کتاب د ژوري او دقيقي مطالعې بلنه ورکوو، دعاء کوو چې الله تعالی مونږ په دنيا او آخرت کې د هغو توريالیو مبارزينو په صف کې محسوب کړي چې له الله تعالی پرته بل چا ته سر نه ټيټوي، له بل چا طمع او وېره نه لري، د خپل رب رضاء لټوي او دې سپېڅلي هدف ته د رسېدو په لار کې هري قربانۍ ته چمتو دي.

اللهم اهدنا الصراط المستقيم

بسم الله الرحمن الرحیم

# پر کتابونو ایمان

پر کتابونو د ایمان موضوع به تر دریو عنوانو لاندي څېړو:

- پر کتاب د ایمان معنی.
- الهي لارښوونو ته د انسان اړتیا.
- او پر کتابونو د ایمان غوښتني.

## پر کتاب د ایمان معنی

د دې لپاره چي انسان خپل ځان وپېژني، په دې پوه شي چي چا پیدا کړی او د څه لپاره ئې پیدا کړی؟ په دې عالم کي د ده د پیدایښت مقصد څه دئ او مقام او منزلت ئې کوم؟ دا عالم چي د انسان د اوسېدو ځای دئ چا پیدا کړی، د څه لپاره ئې پیدا کړی؟ ساتنه او پالنه ئې څوك کوي؟ د دې عالم مآل او پای به څنګه وي؟ دلته به انسان څنګه ژوند کوي؟ د دې خور او پراخ عالم د هر جزء او هري برخي په اړه به د ده تصور څنګه وي او له هغه سره د ده رابطه څنګه؟ الله تعالی د انسان دغو پوښتنو ته د ځواب او د ده د لارښوونې لپاره د پیغمبرانو علیهم السلام په لاس خپل هدایات لېږلي، دا لړی له هغي ورځي پیل شوې چي الله تعالی انسان پیدا کړ، د زماني په هر پړاو کي ئې پیغمبران لېږلي، هغوی ته ئې وحي کړې، ځینو ته ئې د مکمل کتاب په بڼه کي خپل هدایات او لارښووني سپارلي او ځینو نورو ته محدودي لارښووني د صحیفو په اندازه، الله تعالی خپل کتابونه رالېږلي تر څو انسان ته ښه او بد، حلال او حرام، مفید او مضر وروښيي، د هر هغه څه علم او پوهه

ورکړي چي پېژندلو ته ئې اړ دئ، خو په خپل عقل او په تجربې سره د هغه پېژندل ورته ممکن نه دئ، يوازي د همدې روڼ او ځلاند مشعل په رڼا کي انسان کولی شي خپل ځان وپېژني، په خپل چاپېريال کي خواره پټ حقائق درك کړي او د خپل پالونکي رب په لوري د تلو لار وموندلی شي، دا له جهل او ناپوهی د وتلو يوازينی لار ده، دا له ظلم او بې عدالتی د ژغورني يوازينی ذريعه ده. الهي کتابونه راغلي تر څو انسان د انسان له بندگی وژغوري او هغه مقام ته ئې ورسوي چي له الله تعالی پرته ئې بل چا ته د بندگی سر ټيټ نشي او د عزت سوکاله ژوند ئې په برخه شي.

په الهي کتاب کي هر هغه څه يا په تفصيل سره او يا په ايجاز او اختصار سره څېړل شوي چي انسان په هغه پوهېدو ته ضرورت لري. څه چي په دې کتابونو کي راغلي، که هغه د حقائقو او واقعيتونو په باب څېړنه ده، که د عدالت د تأمين لپاره حدود او احکام دي، که د ښه او بد، مفيد او مضر او د خير او شر په اړه قضاوتونه دي، که د حقوقو د تثبيت لپاره معيارونه او ملاکونه دي، که له مؤمنانو سره وعدې دي، که کافرانو او ظالمانو ته وعيد او انذار دئ، ټول به حق گڼو، په هغه کي به شك نه کوو او باور به لرو چي د الله وعدې به خامخا ترسره کېږي او هيڅوك د دې کتاب د قطعي او حتمي پرېکړو د تحقق مخه نشي نيولی.

د الله په کتاب کي نه يوازي دا چي حقائق څرگند شوي، انسان ته خپل ځان او د ده چاپېريال ښودل شوی، د ده او د دې عالم د پيدايښت مقصد او مآل توضيح شوی، حدود وضع شوي، د هر چا حقوق ټاکل شوي، بلکي د بيان او څېړني تر څنگ د انسان د لارښووني او د دې لپاره چي د دنيايي او اخروي سعادت او فلاح لوړ پوړ ته ورسېږي او د خپل پيدايښت اوچتو او لوړو اهدافو او مقاصدو ته ځان ورسوي، طريقه او تگلاره ورښودل شوې او دا دواړه په داسي توگه او داسي الفاظو بيان شوي چي انسان قانع کړي، پوښتنو ته ئې ځواب ووايي، شکوك ئې رفع کړي، د زړه او دماغ دړي ئې د حق منلو ته پرانيزي، لکه چي قرآن فرمايي:

هَٰذَا بَيَانٌ لِّلنَّاسِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةٌ لِّلْمُتَّقِينَ ١٣٨ آل عمران:١٣٨

دا (قرآن) د خلکو لپاره بيان (څرگندونه) او د متقيانو لپاره لارښوونه او موعظه ده.

یعني په دې کتاب کې هم څرګندوني دي او هم لارښووني، خو په داسي الفاظو او له داسي استدلال او نصایحو سره توأم چي انسان متأثره کوي، د بیان او څرګندوني دې اسلوب ته موعظه ویل شوي، دلته په داسي دلائلو استناد شوی چي انسان د دې کتاب په حقانیت باور وکړي او د هغه طرف ته راغب شي، یوازي دا نه چي احکام او حدود ئې ټاکلي او حقوق ئې تثبیت کړي، بلکي د هغي اجتماع او ټولني د جوړولو لارئې هم ښودلې چي باید دغه حدود او ضوابط په کي حاکم وي او د وګړو ترمنځ ئې دا مناسبات قائم شي، نو دا کتاب هم بیان دئ، هم لارښوونه او هدایت او هم موعظه، خو د دې کتاب له مواعظو او لارښوونو یوازي پرهېزګاران او متقیان ګټه اخیستلی شي، که څه هم څرګندوني او بیان ئې د ټولو انسانانو لپاره دئ.

الله تعالی هغه مهال د انسانانو د لارښووني لپاره نوی کتاب د نوي پیغمبر په لاس لېږلی چي یا مخکنی کتاب تحریف شوی، دین پلورونکو علماوو لاسوهني په کي کړې، یا د حوادثو او پېښو په ترڅ کي له منځه تللی او داسي څه نه دي ترې پاته شوي چي د انسان د هدایت لپاره کافي وي او یوه صالح ټولنه پرې جوړه شي، په داسي حال کي چي هر نوی الهي کتاب د مخکنیو کتابونو تصدیق کوي، ټول د اصولو او اساساتو له پلوه سره ورته او شبیه دي او له دې ناحیې د هغوی تر مینځ هیڅ توپیر نشته، د مخکني کتاب مطالب د نوي پیغمبر او د نوي امت په ژبه بیان شوي، خو هره اجتماع او ټولنه ځانته ظروف لري، ځانته شرائط او مقتضیات لري، د دغو ظروفو په مقتضا هري ټولني ته پر اساسي لارښوونو سربېره ځیني خاصي لارښووني متوجه شوې، دا لارښووني له یوې اجتماع نه تر بلې، له یوې پېړۍ تر بلي فرق کوي، په کتابونو کي یوازي له دې ناحیې توپیر او تفاوت شته، که نه نو د مبانیو او اساساتو له لحاظه ټول الهي ادیان په بشپړه توګه یو بل ته ورته دي او د اساسي اصولو له ناحیې په دوی کي هیڅ فرق او اختلاف نشته. خو هر کله چي کوم نوی کتاب نازل شوی په داسي حال کي چي د مخکني کتاب د ټولو مطالبو تصدیق کوي، خو په هغه د عمل کولو لړۍ پای ته رسوي، د هر نوي کتاب له راتلو وروسته خلك په دې مکلف شوي چي یوازي به په دغه کتاب عمل کوي، په داسي حال کي چي په تېر کتاب به ایمان لري، د هغه په حقانیت به باور لري، هغه به د الله جل

جلاله له لوري ګڼي، په دې به ئې باور وي چې تېر کتابونه حق دي، خو خپل ژوند به د نوي الهي کتاب له غوښتنو او لارښوونو سره سم برابروي.

قرآن تر ټولو جامع کتاب دئ، په هغه کې ټول مخکني کتابونه راخلاصه شوي، په دې کتاب سره ټول مخکني کتابونه منسوخ شوي، اوس د ټولو الهي اديانو پلويان مکلف دي چې يوازې به د قرآن متابعت کوي، تر قيامته پورې به دا کتاب د دوی لارښود او دستور العمل وي.

په اختصار سره پر کتاب باندې د ايمان معنی دا ده چې:

- الهي کتاب به د ژوند د ټولو برخو لپاره د يوازيني لارښود په توګه نيسو، ښه او بد، مفيد او مضر، دوست او دښمن، صحيح او غلط، روا او ناروا به د الهي کتاب په رڼا کې ټاکو.
- په ټولو لارښوونو او احکامو به ئې عمل کوو، خپل مشاجرات او شخړې به دې کتاب ته راجع کوو او پرېکړو ته به ئې غاړه ږدو، که دا مشاجرات حقوقي بڼه ولري، د فکري او اعتقادي مسائلو په ارتباط وي، يا سياسي او اجتماعي قضايا وي او مالي او اقتصادي جرړې ولري.

## الهي لارښوونو ته د انسان اړتيا:

بايد په دې پوه شو چې الله تعالی ولې د انسان د لارښوونې لپاره کتاب رالېږلی؟ آيا انسان نشي کولی د نورو ژوو په څېر د خپل عقل او شعور په رڼا کې ژوند وکړي، ښه او بد، مفيد او مضر تشخيص کړي؟ آيا هغه داسې پيدا شوی چې الهي لارښوونو ته د يوه لارښود کتاب په بڼه کې ضرورت لري، له دې پرته او يوازې د خپل عقل او شعور په مرسته نشي کولی هغه لار ومومي چې هدف ته ئې رسوي او هغه ژوند ورپه برخه کړي چې ورسره ښايي او د ده انساني فطرت ئې غوښتنه کوي؟

که ځان ته او خپل ماحول ته لږ ځير شو نو د انسان او نورو ژوو تر منځ دا توپير ډېر ژر زموږ مخې ته راځي چې نور ژوي او حيوانات داسې پيدا شوي چې په فطري توګه د دوی لارښوونه شوې، په دې پوهېږي چې څه وکړي او څه ونه کړي، څه وخوري او څه ونه خوري، د حيوان بچی د پيدا کېدو له لومړۍ ورځې په دې

پوهېږي چي کوم بوټی وخوري او له کوم يوه ډډه وکړي، د دوی په فطرت کي دا پوهه اېښودل شوې چي مضر او مفيد خوراك تشخيص کړي، خو انسان ته بايد وويل شي چي دا خوراك درته گټور دئ او دا مضر، دا کار صحيح دئ او دا غلط، د عالَم په ټولو ژوو کي يوازي انسان داسي پيدا شوی چي مجبور دئ د مفيد او مضر خوراك په اړه له بله معلومات ترلاسه کړي، نور ژوي داسي پيدا شوي چي د پيدايښت له لومړيو شېبو په دې پوهېږي چي کوم څه وخوري او کوم څه نه، په دماغ کي ئې د مضر او گټور بوټي او دانې د تشخيص استعداد اېښودل شوی، د دغه استعداد په مرسته د پيدايښت له لومړۍ ورځي سم او ناسم خوراك معلوموی شي، د غرڅه بچی، وری، سېرلی، وزگوړی، سخوندر، جونگی او ټول نور ژوي او بچيان ئې هغه بوټي نه په خوله کوي چي ورته مضر وي، خو د انسان بچی ډېره، خاوره، سکروټه او هر څه په خوله کوي، تر اوږدې مودې ئې بايد مور سمبال کړي او د تاواني شيانو له خوړلو ئې وساتي، تل بايد ورته ووايي: مه مه، کيخ، باو، تو کړه، مه خوره.. قرآن په جنت کي د آدم عليه السلام د ځای په ځای کېدو او د ممنوعه شجرې په يادولو سره دغي اساسي او مهمي خبري ته اشاره کړې او په دې سره ئې مونږ ته لارښوونه کړې چي انسان د مفيد او مضر په پېژندو کي الهي لارښوونې ته اړ دئ.

دا مطلب د قرآن په يوه بل آيت کي په ډېره دقيقه توگه څېړل شوی، هلته چي فرمايي:

إِنَّا عَرَضْنَا ٱلْأَمَانَةَ عَلَى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَٱلْجِبَالِ فَأَبَيْنَ أَن يَحْمِلْنَهَا وَأَشْفَقْنَ مِنْهَا وَحَمَلَهَا ٱلْإِنسَٰنُ ۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومًا جَهُولًا ٧٢ الاحزاب:٧٢

يقيناً چي مونږ دا امانت آسمانونو، زمکي او غرونو ته وړاندي کړ خو هغوی له دې ډډه وکړه چي حمل ئې کړي (په غاړه ئې واخلي او قبول ئې کړي) او (له ستروالي او عظمت ئې) ووېرېدل او انسان حمل کړ، (دا امانت ئې په غاړه واخيست) يقيناً چي هغه ډېر ظالم او ډېر نا پوه او جاهل وو. تر څو منافقين او منافقاني، مشرکين او مشرکاني تعذيب کړي او پر نارينه او ښځينه مؤمنانو (په خپل رحمت سره) رجوع وکړي (د دوی توبه قبوله کړي)، او يقيناً چي الله مهربان بخښونکی دئ.

دا مبارك آيتونه چي په حقيقت کي يو آيت دئ او د احزاب سورې جامع تتمه او خلاصه زموږ په وړاندي ږدي څو اساسي مطالب افاده کوي:

- د آيت په لومړۍ برخي کي الهي کتاب د امانت په نامه ياد شوی او ويل شوي چي دا امانت آسمانونو، زمکي او غرونو ته وړاندي شو خو هغوی ئې له قبلولو ډډه وکړه، بايد وګورو چي د دې معنی څه ده؟ آيا معنی ئې دا ده چي دوی د الله تعالی له حکمه سرغړاوی وکړ؟ او که دا چي دوی داسي لاربنود کتاب ته ضرورت نه درلود؟ آيا معنی ئې انکاري اجتناب دئ که په فطري توګه او د عدم ضرورت او عدم اهليت له کبله اجتناب؟ دې پوښتني ته قرآن په خپله ځواب وايي، د قرآن نور آيتونه موږ ته دا حقيقت بيانوي چي د آسمانونو او زمکي هر څه ته په فطري توګه لاربښوونه شوې، هر څه همغه کار کوي چي الله تعالی پرې ګمارلی، د زمکي او آسمانونو هر څه طوعاً او کرهاً الله تعالی ته منقاد دي او د هغه اوامرو ته غاړه ږدي، د دغو آيتونو په رڼا کي وايو چي د آسمانونو، زمکي او غرونو ډډه کول هيڅکله د الله تعالی له امره د سرغړاوي، عصيان او عدم اطاعت په معنی نه دي، ځکه قرآن فرمايي:

أَفَغَيْرَ دِينِ ٱللَّهِ يَبْغُونَ وَلَهُۥٓ أَسْلَمَ مَن فِى ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ طَوْعًا وَكَرْهًا وَإِلَيْهِ يُرْجَعُونَ ٨٣ آل عمران: ٨٣

آيا (دا کافران) د الله له دين پرته (بل دين) لټوي، حال دا چي د آسمانونو او زمکي هرڅه طوعاً اوکرهاً ( په خوښه او ناخوښه) ده ته غاړه ايښې او د ده لوري ته ورګرځول کيږي.

يعني د زمکي او آسمان هر څه الله ته تسليم دي، د ټولو دين اسلام دئ، هغه څه کوي چي الله پرې ګمارلي، په همغه لار درومي چي الله ورته ټاکلې، لمر، سپوږمۍ، ستوري په خپل خپل مدار کي خوځي، په خپل خپل وخت او له خپل خپل ځای راخيژي او پرېوځي، وني، بوټي او حيوانات د خپل فطرت مطابق په خپل کار لګيا دي، په ټولو مخلوقاتو کي يوازي کافر او عاصي انسان دئ چي د الله له دين پرته د بل څه په لټه کي شي، هم د الله د دين په نسبت کافر شي او هم د خپل

فطرت په نسبت، دی ستر باغي دئ، له هغه دین ئې بغاوت کړی چې د زمکې او د آسمانونو د هر څه دین دئ.

له دې آیتونو په څرګنده معلومېږي چې د زمکې، آسمانونو او غرونو د اجتناب او اعراض مفهوم دا نه دئ چې ګواکې د الله له امره ئې عصیان او سرغړونه کړې، د قرآن عظیم الشأن د نورو آیتونو په رڼا کې معلومېږي چې الله جل شأنه د زمکې او د آسمانونو هر څه ته د هغوی د فطرت او طبیعت سره سم وحي کړې، هر یوه ته ئې خپله خپله لار ښودلې، هغوی خپل مسیر پېژني، په کوم څه چې ګمارل شوي او کومه وظیفه چې ورکړی شوې هغه ترسره کوي، د کوم هدف لپاره چې پیدا شوي د هغه د تحقق هڅه کوي، نو د دې لپاره چې دوی ته بېله وحي شوې، خپله لار ئې پېژندلې، په رڼا کې خوځېږي، په خپل مسیر پوهېږي او له بلې خوا دا انسان ته لېږل شوی امانت، د دغو شیانو له طبیعت سره متناسب نه وو، په دې خاطر هغوی د دې له منلو اجتناب وکړ، دا داسې وګڼئ لکه د ځا چې موټر څراغونه ولري، خو په دې خاطر چې رڼا او ورځ وي د موټر د څراغونو له بلولو اجتناب کوي، په رڼا کې څوك څراغ نه بلوي، د دغو شیانو اجتناب هم دغسې وګڼئ، دوی په رڼا کې دي، هغوی ته وحي شوې، هغوی خپله لار پېژني، بلې رڼا ته ضرورت نه لري، دا د هغوی له طبیعت او فطرت سره جوړښت نه خوري او د دوی لپاره مناسب نه دئ، له دې امله له هغه ډډه کوي، خو په دې مبارك آیت کې دې ته هم اشاره شوې چې د دې امانت، عظمت، لوړوالی او ستروالی دومره دئ چې حتی آسمانونو، زمکې او غرونو هم د هغه له حملولو وېره وکړه، دا دومره ستر امانت دئ چې هغوی د ده له حمل ځان عاجز وګڼلو، خو همدا امانت انسان حمل کړ.

د دې آیت د وروستۍ برخې په اړه د مفسرینو ترمنځ ډېر اختلاف رأی لیدل کېږي، په دې کې دومره مختلف آراء وړاندې شوي چې انسان په حیرت کې اچوي او کله کله خو همدا متعدد او مختلف آراء هر ابتدائي لوستونکی په شك او تشویش کې غورځوي او حقیقت پرې مغشوشوي، خو د دې ساده او بسیط مطلب دا دئ:

**وَحَمَلَهَا ٱلۡإِنسَٰنُۖ إِنَّهُۥ كَانَ ظَلُومٗا جَهُولٗا**: او انسان حمل کړ (له دې کبله چې) یقیناً هغه ډېر ظالم او ډېر جاهل او ناپوه وو. یعني په آسمانونو او زمکې کې یوازې

انسان داسي څوك وو چي د (ظلم) او (جهل) له تياري دنيا د وتلو لپاره ئې دغسي يوې رڼا ته ضرورت وو، هغه له دې پرته په خپلو قضاوتونو کې (ډېر ظالم) او د ځان او جهان په پېژندو کې (ډېر جاهل) وو، يوه (معيار او ملاك) او يوه (څراغ او رڼا) ته اړ وو، ځکه ئې دا الهي امانت قبول کړ.

د دې لپاره چي انسان په خپل قضاوت او له نورو سره په خپل چلن او معاملې کې له ظلم او تېري ځان وژغوري، د عدل يوه ملاك او معيار ته ئې ضرورت درلود، د همدې لپاره ئې دا کتاب قبول کړ، له انسان پرته نور مخلوقات له دې بې نياز ول، هر يوه ته بېله بېله لارښوونه شوې، خو انسان د عدل لپاره يوه معيار ته اړ او محتاج وو، غوښتل ئې داسي ملاك او معيار ترلاسه کړي چي (عدل) له (ظلم) تفکيك کړی شي، د دې لپاره چي له ظلم وژغورل شي يوې تلې، معيار او ملاك ته محتاج وو، نو ځکه ئې دا الهي امانت قبول کړ، همدا راز هغه ډېر ناپوه او جهول وو، نه ئې ځان پېژندلی شو او نه دا عالم، هر څه ورته مجهول وو، نور او رڼا ته محتاج وو، هغه څه ته ئې ضرورت درلود چي ده ته خپل ځان او دا عالم او کائنات وروپېژني، هغه دا الهي امانت د دې لپاره قبول کړ چي هغه د ناپوهۍ په تيارو کې وو، يوه داسي روڼ څراغ ته اړ وو چي له تيارو ئې وباسي، نو ځکه ئې دا امانت حمل کړ، خو آسمانونو، زمکي او غرونو د دې لپاره حمل نه کړ چي هغوی خپله لاره پېژندله، هغوی ته خپل خپل مسير ټاکل شوی، هغوی ته د خپل طبيعت او فطرت سره سم وحي او لارښوونه شوې.

حقيقت دا دئ چي انسان نشي کولی يوازي د خپل عقل په مرسته او د تجربو له لاري ټول مفيد او مضر شيان تشخيص کړي او د ژوند داسي تګلاره ځان ته غوره کړي چي د ده له فطرت سره ښايي، دې هدف ته د رسېدو لپاره يوازي په خپل عقل، شعور، پوهي او تجربې اکتفاء نشي کولی، داسي تګلاره يوازي په هغه صورت کې ځان ته ټاکلی شي چي د خپل ځان او د دې پراخ عالم په اړه بشپړ او کامل علم ولري، که څوك وغواړي د انساني ژوند د ښه تنظيم لپاره قوانين وضع کړي او داسي ژوند ته د رسېدو لپاره ده ته تګلاره وټاکي، هغه بايد په دغو دواړو برخو کې بشپړ او کامل علم ولري، د انسان لپاره د تګلاري ټاکل په دغو دواړو برخو کې داسي بشپړي پوهي او علم ته ضرورت لري چي په رڼا کې ئې هم د انسان د فطري

جوړښت او د هغه د نفس ټول مادي او معنوي ابعاد تشخیص کړی شي او هم د دې پراخ او پېچلي عالم له ټولو اجزاوو سره د ده د اړیکو څرنګوالی وروښيي، سره له دې چې انسان د عالم د پېژندو په اړه ډېر پرمختګ کړی، د پرون ورځې ډېرې مجهولې برخې نن ورته څرګندې شوې، خو دا علم ئې له ضروري حده ډېر محدود او ناقص دئ او د دې لپاره قطعاً کافي نه دئ چې ده ته د یوه صالح او سالم ژوند صحیح لار وروښيي، هغه الهي لارښوونو ته اړ دئ او له دې پرته بله چاره نه لري. انسان ته د خپل نفس یوازې د محدودې برخې پېژندل ممکن دي او تر یوه حده خپل ماحول پېژندلی شي، خو د خپل نفس او د ټول عالم او د عالم په اړه کامل او جامع علم؛ د انسان له وس او توان بهر دئ، دا ځکه چې د هغه عمر محدود دئ او دا عالم ډېر خور، وسیع، پراخ او بې انتهاء، هغه په دې محدود عمر کې نه خپل ځان په بشپړه توګه پېژندلی شي او نه دا خور عالم او هستي، د دې عالم وسعت او پراخوالی او د ده د استعدادونو ضعف او محدودیت، د دې ټول عالم پېژندګلوي هغه ته محال کړې ده، انسان ته امکان نه لري چې دا ټوله هستي وپېژني، د دې عالم یوه برخه خو د انسان تر تجربې لاندې راځي او هغه ئې پېژندلی شي او کېدی شي دا تجارب له یوه نسله بل ته انتقال شي او په دې توګه ورو ورو د انسان علم وسیع شي، خو په دې عالم او د ده په خپل نفس کې داسې مجهولې برخې شته چې لږ تر لږه دومره ویلی شو چې تر ننه پورې انسان نه دئ توانېدلی چې هغه وپېژني، دا عالم دومره خور او پراخ دئ چې د ځینو ستورو نور ئې د سرعت او لري والي په وجه زمکې ته نشي رسېدلی او ځیني نور ئې داسې دي چې په زرهاوو نوري کلونو ته ضرورت لري چې نور ئې زمکې ته راورسېږي. ساینسي علوم دا عالم او کائنات بې انتهاء ګڼې، یعني دا چې دا عالم پای او انتهاء نه لري، تر  اوسه په دې نه دئ توانېدلی چې د ستورو او ستورلیکو (کهکشانونو) شمېر ئې دقیقاً معلوم کړي، د زمکې د سر او منځ د ډېرو برخو په اړه دقیق او بشپړ معلومات نه لري او د خپل ذات په اړه هم د انسان علم دېر محدود دئ، حتی د انسان د فزیولوژۍ او جسمي جوړښت ګڼ شمېر برخې ورته مجهولې دي، تر نن پورې علم د انسان د مغز شاوخوا ۲۵% کارونو او وظائفو باندې څه ناڅه پوهېږي، خو متباقی برخې ئې ورته مجهولې دي، نه پوهېږي چې دا څه کار کوي او د څه لپاره پیدا شوي؟ تر اوسه خو

علم لا د انسان د دماغ پنځه او يا په سلو کې ۷۵% نه پېژني، څه دا چې د هغه د روحي جوړښت په نسبت د څه ويلو جرأت وکړي.

په داسې حال کې چې انسان مجهول دئ او هغه تر اوسه پوري نه دئ توانېدلی چې خپل ځان وپېژني او دا عالم او هستي هومره وسيع او پراخه ده چې انسان ئې بې انتهاء ګڼي، تر اوسه د هغه پای او نهايت ورته معلوم نه دئ، د هغه ټول اجزاء او توکي خو پرېږده، له دې محدود علم سره انسان څنګه کولی شي د ځان لپاره تګلاره، قواعد او ضوابط وضع کړي؟ حال دا چې د هر مادي توکي او عنصر په اړه قوانين او ضوابط هلته وضع کېدلی شي چې هم د هغه د فزيکي خصوصياتو په نسبت پوره علم په واك کې ولرو او هم ئې د کيمياوي خصوصياتو په نسبت، په دغو خصوصياتو له پوهېدو وروسته موږ وايو چې دا له کومو کومو عناصرو سره تعامل کولی شي او څه ترې جوړېدی شي او له کومو سره ئې تعامل محال او ناممکن دئ. اول بايد د هغه په اتومي جوړښت او فزيکي خواصو پوه شو، د هغه کيمياوي خصوصيات درك کړو او په دې پوه شو چې له کومو عناصرو سره تعامل کولی شي او له کومو سره نه، له دې وروسته د نوموړي عنصر په اړه قواعد او ضوابط وضع کولی شو، نه له دې مخکې.

کله چې د انسان لپاره دين، د ژوند تګلاره او قوانين وضع کېږي، نو لومړی بايد په خپله انسان وپېژندل شي او د هغه په اړه کامل علم حاصل شي او بيا د هغه د ټول ماحول په اړه جامع او کامل علم ترلاسه شي، له دې وروسته د انسان لپاره قواعد او ضوابط وضع کېدلی شي، خو دا کار انسان ته ممکن نه دئ، د همدې لپاره الله جل شأنه په خپله د دې انتظام کړی، پيغمبران ئې مبعوث کړي، هغوی ته ئې وحي کړې، د انسان د لارښوونې او هدايت لپاره ئې کتاب لېږلی، هغه ته ئې د ژوند ضابطه وضع کړې او هغه ته ئې حدود ټاکلي.

قرآن د انسان دغه نقص او کمښت ته ګوته نيسي او وايي: که ده ته د ميراث د وېش په څېر د خپل اجتماعي ژوند د يوې عادي قضيې پرېکړه وسپارل شي د کوم بنسټ له مخې به عادلانه پرېکړه کوي، د پلار او زوی ترمنځ به چا ته ترجيح ورکوي، د چا برخه به زياته او د چا لږ ټاکي، که ده ته وويل شي چې ميراث دې په

نږدې خپلوانو ووېشه، وواياست چې پلار به ډېر نږدې ګڼي که زامن، د کوم يوه برخه به تر بل زياته ټاکي؟ قرآن په دې اړه فرمايي:

... ءَابَآؤُكُمْ وَأَبْنَآؤُكُمْ لَا تَدْرُونَ أَيُّهُمْ أَقْرَبُ لَكُمْ نَفْعًاۚ فَرِيضَةً مِّنَ ٱللَّهِۗ إِنَّ ٱللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ›› النساء:١١

... نه پوهېږئ چې کوم يو به ئې په نفع کې تاسو ته نږدې وي، پلرونه مو که زامن مو؟ دا الهي فريضه ده، بې شکه چې الله ډېر باحکمته پوه دئ.

دلته ويل شوي: که دا د ميراث وېش ستاسو خپلې خوښې ته پرېښودی شي، پخپله د هر يوه برخه وټاکئ، نو ووايئ چې د هر يوه برخه به څنګه ټاکئ؟ د برخو په ټاکلو کې به کوم څه د ملاك او معيار په توګه غوره کوئ؟ نږدېوالی که ګټه او منفعت؟ پلار ډېر درنږدې او ګټور دئ که زوی؟ د کوم برخه به زياته غوره کوئ او د کوم لږ؟ تاسو ته ممکن نه ده چې په دې اړه حکيمانه او عالمانه پرېکړه وکړی شئ. دا برخي د هغه الله له لوري ټاکل شوې چې هم ښه پوه دئ او هم د حکمت خاوند، هره پرېکړه ئې حکيمانه او په علم ولاړه پرېکړه ده.

که انسان ته په خپلو نږدې خپلوانو د ميراث د وېشلو عادي مسئله پرېښودی شي وواياست چې د هر يوه حقوق به څنګه ټاکي؟ کوم ته به څومره برخه ورکوي؟ د پلار او زامنو حقوق به د کوم معيار له مخې ټاکي؟ که ده ته حتی دا هم ګرانه وي چې په خپل نږدې ماحول کې، د خپلو نږدې خپلوانو حقوق وټاکي، نو د ژوند په نورو پېچلو برخو کې به څنګه تصرف کوي او ځان ته به عادلانه او حکيمانه تګلاره غوره کوي؟!!

له دې علاوه موږ ګورو چې انسان په دې عالم کې د يوه داسي امتيازي مخلوق حيثيت لري چې د عالم هر څه د ده په خدمت کې او ده ته مسخر شوي، د قرآن په اصطلاح انسان د زمکې خليفه دئ، هغه په دې عالم کې د الله د خليفه په توګه تصرف کوي، دا تصرف جامع او کلي علم ته ضرورت لري، جامع او کلي علم انسان ته ممکن نه دئ، په دې خاطر الله جل شانه په خپله انسان ته د دې انتظام کوي چې هغه په پوره بصيرت سره په دې عالم کې تصرف وکولی شي، الله جل شأنه هغه

ته د جامع علم انتظام کړی او د ده د لارښوونې لپاره ئې کتاب رالېږلی. قرآن دغه مطلب په دې توګه زموږ مخې ته ږدي چې وايي: د انسان لپاره د دين ټاکل او د حدودو او ضوابطو وضع کول د هغه ذات کار دئ چې هم د ټول عالَم په اړه جامع او بشپړ علم لري او هم په خپله د انسان د طبيعت په اړه کامل علم، په همدې ارتباط فرمايي چې الهي کتابونه د هغه الله له لوري لېږل شوي چې په زمکه او آسمانونو کې هيڅ شی ترې پټ نه دئ او تاسو ئې پيدا کړي يئ.

د آل عمران په سورې کې د تورات، انجيل او فرقان د نزول له يادونې وروسته فرمايي:

إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَخۡفَىٰ عَلَيۡهِ شَيۡءٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا فِي ٱلسَّمَآءِ ٥ هُوَ ٱلَّذِي يُصَوِّرُكُمۡ فِي ٱلۡأَرۡحَامِ كَيۡفَ يَشَآءُۚ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٦ آل عمران:٥-٦

يقيناً چې په الله باندې هيڅ څه نه شي پټېدی، نه په زمکې کې څه او نه په آسمان کې څه. دی خو همغه ذات دئ چې تاسو ته د (ميندو) په رحم کې هغسې صورت او شکل درکوي چې دی ئې غواړي، پرته له ده چې عزيز او حکيم دئ بل معبود نشته.

دلته د کتاب په اړه څو ډېرې اساسي او بنيادي خبرې شوې چې په مطلب ئې پوهېدل لږ غور او دقت غواړي:

- هغه څوک کولی شي د انسان لپاره قانون وضع کړي چې هم د انسان د خلقت، جوړښت او فطرت له ټولو زواياوو او د ده له ټولو فطري اړتياوو خبر وي او هم د انسان د ماحول په ټولو هغو شيانو پوه وي چې دی ئې احاطه کړی او دی ورسره په يوه او بله بڼه کې څه تعلق لري. هم انسان پېژني او هم د انسان په مېشت ځای کې هرڅه پېژني، په دې پوه وي چې انسان څه ته ضرورت لري، څه ورته ګټور دي او څه تاواني. په قانون کې به انسان ته ويل کېږي چې څه کول ورته جائز دي او څه ناجائز، د کوم څه خوړل ورته روا دي او کوم څه ناروا، د روا، ناروا، جائز او ناجائز او مفيد او مضر پرېکړه هغه څوک کولی شي چې هم د انسان له

طبیعت دقیقاً خبر وي او هم په زمکې کې د ټولو موجودو شیانو له ماهیت خبر وي او په دې پوه وي چې کوم څه انسان ته څه تاوان رسولی شي. قانون په حقیقت کې یو کشف دئ نه اختراع، قانون جوړوونکی قانون کشفوي، له خپل ځان او په خپل سر ئې نه شي جوړولی، د انسان لپاره قانون وضع کول داسي دي لکه یو فزیك پوه، کیمیا پوه او د ساینس عالم چې د یوه عنصر په اړه وایي: د دې عنصر فزیکي او کیمیاوي خواص دا دي، د حرارت او برق د انتقال توان ئې دومره دئ، د حرارت په کومه درجه کې سوزي، له فلاني فلاني عنصر سره ئې ترکیب ممکن دئ او له هر یوه سره ئې د ترکیب فورمول دا دئ. د دې عنصر په اړه چې دوی څه ویلي دا ټول ئې د تحقیقاتو او تجاربو په ترڅ کې موندلي، دا هر څه کشف دي نه اختراع، کشف یعني د څېړنې په ترڅ کې موندل او اختراع یعني په خپله نوی شی جوړول، دوی په خپل سر او په خپلې خوښې څه نه دي وضع کړي، بلکې شته او حاکم قوانین ئې کشف کړي او په خاصو الفاظو سره ئې بیان کړي. د ساینس ټول فورمولونه په حقیقت کې په طبیعت حاکم قوانین دي چې ساینس پوهانو کشف کړي، د انسان لپاره قوانین هم باید همداسې کشف شي، د دې لپاره (انسانپوه) ته ضرورت دئ، نه یوازې انسانپوه ته بلکې (طبیعتپوه) ته هم، هغه چا ته چې هم د انسان په اړه دقیق علم ولري او هم د ده د ټول ماحول په اړه.

- که د یوه ساده عنصر په اړه د نړۍ هیڅ فزیك پوه او د ساینس هیڅ عالم دا جرأت نه شي کولی چې له ځانه قانون وضع کړي او هره خبره ئې د کشف نتیجه وي، نو د انسان لپاره قانون جوړوونکي څنګه جرأت کوي چې په داسي حال کې د ده لپاره قانون جوړوي چې تر اوسه خو لا د انسان د جسمي جوړښت له ډېرو پېچلو برخو خبر نه دي، روحي جوړښت خو ئې پربېږده، روحي جوړښت خو ئې هومره پیچلی دئ چې دا برخه لا تراوسه اصلاً د ده تر بحث لاندې نه ده راغلې او په دې اړه څه ویل ورته ممکن نه دي، دا برخه په لابراتوار کې د میکروسکوب لاندې هم نه شي نیولی. الکسیس کارل د شلمې پېړۍ یو معروف غربي عالم په خپل کتاب (انسان یو ناپېژانده موجود) کې لیکي: زه له نن ورځې د خپل ژوند ترپایه د انسان په اړه هومره سؤالونه یو په بل پسې کولی شم چې علم ئې له ځواب ویلو عاجز دئ او ډېر سؤالونه داسي چې ساینس ئې هیڅکله ځواب نه شي ویلی!

• په دغو مبارکو آيتونو کې دغه حقيقت ته اشاره شوې، کوم ذات چې تاسو ته کتاب رالېږلی هغه ته هم د زمکې او آسمانونو ټول پټ اسرار معلوم دي او هم ستاسو د وجود له ټولو اسرارو خبر دئ، تاسو خو هغه پيدا کړي يئ، دی ستاسو د صورت او جوړښت خالق دئ، ستاسو د روحي او جسمي جوړښت له ټولو زواياوو خبر دئ.

په دې بحث پسې متصل بيا د کتاب په اړه فرمايي:

هُوَ ٱلَّذِيٓ أَنزَلَ عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ مِنۡهُ ءَايَٰتٞ مُّحۡكَمَٰتٌ هُنَّ أُمُّ ٱلۡكِتَٰبِ وَأُخَرُ مُتَشَٰبِهَٰتٞۖ فَأَمَّا ٱلَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمۡ زَيۡغٞ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَٰبَهَ مِنۡهُ ٱبۡتِغَآءَ ٱلۡفِتۡنَةِ وَٱبۡتِغَآءَ تَأۡوِيلِهِۦۖ وَمَا يَعۡلَمُ تَأۡوِيلَهُۥٓ إِلَّا ٱللَّهُۗ وَٱلرَّٰسِخُونَ فِي ٱلۡعِلۡمِ يَقُولُونَ ءَامَنَّا بِهِۦ كُلّٞ مِّنۡ عِندِ رَبِّنَاۗ وَمَا يَذَّكَّرُ إِلَّآ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٧ آل عمران:٧

الله هغه ذات دئ چې دا کتاب ئې پرتا باندې نازل کړ، چې ځينې آيتونه ئې مُحکم دي، چې دا د کتاب بنسټ دئ او نور ئې متشابه دي، نو هغه کسان چې په زړونو کې ئې کوږوالی دئ په متشابه پسې ئې درومي، د فتنې په لټه کې او د تأويل په لټه کې، په داسې حال کې چې په تأويل ئې له الله پرته هيڅوك نه پوهېږي او هغه چې د راسخ علم خاوندان دي وايي: مونږ ايمان پرې راوړی، ټول زمونږ د رب له لوري دي او پند نه اخلي مگر د عقل خاوندان.

دا مبارك آيت څو مهم مطالب زمونږ مخې ته ږدي:

• د الله کتاب دوه برخې او دوه ډوله آيتونه لري: ځينې ئې هغه دي چې د څرگندو او انسان ته د معلومو شيانو په اړه ئې بحث کړی او ځينې هغه چې د انسان له سترگو د پټو شيانو په اړه څرگندونې لري. لومړي ډول ته (مُحکم آيتونه) او دوهم ډول ته ئې (متشابهات) ويل شوي.

• محکم آيتونه هغه دي چې هم ئې د بحث موضوع څرگند شيان دي او هم

ئې الفاظ هغه دي چې انسان ئې د همدغو شيانو لپاره کاروي.

- متشابه آيتونه ئې هغه دي چې په هغوی کې د تشبيه له فن استفاده شوې، د بحث موضوع ئې د انسان له سترګو پټ شيان دي او د دغو شيانو د معرفۍ لپاره داسې الفاظ کارول شوي چې په اصل کې د نورو شيانو لپاره وضع شوي.

- د کتاب اصلي او اساسي مطالب په هغو آيتونو کې راغلي چې محکم دي او تشبيه نه ده په کې کارول شوې.

- متشابه آيتونه چې په مفهوم ئې پوهېدل غور او دقت غواړي بايد همدې محکمو آيتونو ته راجع شي او د همدې آيتونو په رڼا کې تفسير او توضيح شي، دا ځکه چې د کتاب (ام)، اصل او محور همدا محکم آيتونه دي.

- هغه کسان چې په زړونو کې ئې خيري او کوږوالی وي، د دې په ځای چې د متشابه آيتونو په مراد باندې ايمان کافي وګڼي، برعکس د دې آيتونو په تأويل د پوهېدو هڅه او لټه کوي او غواړي له هغه د بحث او تحقيق موضوع جوړه کړي.

- هغه کسان چې غواړي دغه ډول آيتونه د مناقشې او بحث موضوع وګرځوي، هغوی په حقيقت کې يا د فتنو راولاړول غواړي، د دې هڅه کوي چې د خلکو په زړونو کې شکوك او شبهات راولاړ کړي او توجه ئې له محکمو آيتونو بل لور ته واړوي او يا دا چې غواړي د متشابهاتو په تأويل ځان پوه کړي. د تأويل لغوي معنی اول يا اصل ته اړول دي، تأويل يعني په متشابه آيت کې د تشبيه شوي څيز په کُنه او ماهيت باندې ځان پوهول، ګويا دوی غواړي په دې پوه شي چې د دې متشابه اصلي او اولنی حالت او کيفيت څنګه دئ؟!

- دا هلې ځلې او دا هڅه او هاند د هغه چا کار دئ چې زړه ئې کوږ او خيرن وي، پر زړه او دماغ ئې شکونو سيوری غوړولی وي.

- د متشابهاتو د تأويل علم يوازې له الله تعالی سره دئ، بل هيڅوك نه شي کولی په هغه باندې پوه شي، ځکه الله تعالی هغه غيبي او له سترګو پټ شيان چې انسان ئې نه پېژني او نه په خپل قاموس کې ورته نوم لري، د انسان د ښې پوهې په خاطر له محسوسو او پېژندل شوو شيانو سره تشبيه کړي او په داسې الفاظو سره ئې

معرفي کړي دي چي په حقيقت کي د ښکاره او څرګندو شيانو لپاره استعمالېږي، د دې لپاره چي هغه د انسان لپاره د فهم وړ وګرځوي او د هغه څيز د حقيقت په اړه نسبي فهم ورته حاصل شي. د دې مطلب دا شو چي د دغو شيانو د معرفي لپاره ترممکنه حده او تر هغه ځايه چي د انسان عقل ته مقدور ده اهتمام شوی او د متشابه آيتونو په ترڅ کي معرفي شوي، د انسان د عقل نيلي له دې آخوا وړاندي نه شي تلی، دا د ده د الوت وروستی پړاو دئ، آخوا ته ئې لاس نه رسېږي، د ده له عقل او ادراک لوړ دي، الله تعالی د همدې ډول شيانو د معرفي کولو لپاره ښه لازمه څرګندونه کړې ده او د انسان د عقلي قوت مطابق وضاحت ئې کړی دئ، خو له دې آخوا د انسان عقل د مخکي تګ مجال نه لري، بايد همدلته ودرېږي او د متشابهاتو له تأويل ځان وساتي. د انسان د عقل او پوهي قصور، د حواسو او مشاعرو محدوديت ئې او د ژبي او قاموس عدم جامعيت ئې باعث شوي چي له مخکي تګ نه عاجز شي او د متشابهاتو په حقيقت تر دې زيات پوه نه شي.

تر دې آيت وړاندي په مخکنيو دوو آيتونو کي وضاحت شوی وو چي د انسان لپاره (لاريښود) او (فرقان) کتاب هغه الله رالېږلی چي د (آفاق) او (انفس) په ټولو اسرارو او خفاياوو خبر دئ، يعني په دې کتاب کي هم د زمکي او آسمان د ډېرو هغو شيانو په اړه بحث شوی چي د انسان له سترګو پټ دي او هم په خپله د انسان په اړه. انسان په خپل قاموس کي يوازي د هغو شيانو لپاره نومونه لري چي ده په خپلو سترګو ليدلي او پېژني ئې، هغه څه چي د ده له سترګو پټ دي د هغه لپاره نه نوم لري او نه ئې د معرفي کولو لپاره الفاظ، نو الله تعالی به هغه ته دا شيان څنګه او په کومو الفاظو معرفي کوي؟ د الله په کتاب کي به د دې غيبي شيانو د معرفي کولو لپاره کوم اسلوب کارول کېږي؟ دغه سؤال ته په دې مبارک آيت کي ځواب ويل شوی.

که په قرآنکريم کي لږ غور او دقت وکړو نو دا به راته په ډاګه شي چي د قرآنکريم د بحث او څېړني دوه اساسي محورونه دي، يو شمېر ئې په هغو قضاياوو پوري اړه لري چي د انسان لپاره مشهود، څرګند او ښکاره دي او په انساني قاموس کي ورته صريح او څرګند الفاظ شته، لکه لمر، سپوږمۍ، آسمان، زمکه، غر، انسان او نور، دوهمه برخه ئې له داسي شيانو سره تړاو لري چي له نظره پټ او غايب دي او

انسان په خپل قاموس کې داسي کلمات او لغات نه لري چي د هغوی د معرفي کولو لپاره ئې وکاروي. د دې غیبي شیانو د پېژندلو او معرفي کولو لپاره لابد باید هغه الفاظ وکارول شي چي په اصل کې د ملموسو او ښکاره شیانو لپاره وضع شوي دي او ناچار باید د تشبیه له فن کار واخیستل شي ترڅو د دې غیبي څیزونو داسي انځور وړاندي کړی شي چي حقیقت ته نږدې وي، له همدې ځایه آیتونه په دوو برخو وېشل کېږي: هغه آیتونه چي د ښکاره او مشهود عالم په اړه بحث کوي، په دې کې داسي الفاظ استعمال شوي چي هر یو د خپل ځانګړي مورد لپاره وضع شوی دئ، مفهوم او مدلول ئې څرګند دئ، د آیت مراد او په خپل مورد د لفظ تطبیق آسان دئ، دا آیتونه محکم دي، خو هغه آیتونه چي له غیب او غیبي شیانو بحث کوي، په دې ډول آیتونو کې د غیبي شیانو د افادې او تعریف لپاره د تشبیه فن کارول شوی او داسي الفاظ په کې استعمال شوي دي چي په اصل کې د څرګندو او ټولو ته د ښکاره شیانو لپاره وضع شوي دي، دا آیتونه متشابه بلل کېږي.

د مثال په توګه د دې لپاره چي موږ ملائکي وپېژنو او په دې پوه شو چي هغوی د آسمان او زمکي ترمنځ تګ راتګ کوي، په داسي حال کې چي انسان د ملائکو له لیدو او په جوړښت او شکل ئې له پوهېدو عاجز دئ او په داسي حال کې چي انسان د الوتو لپاره یوازي یوه وسیله پېژني چي هغه وزرونه دي، اوس که څوك وغواړي انسان ته ملائکي وروپېژني او په دې ئې پوه کړي چي دوی د آسمان او د زمکي ترمنځ څنګه ځي راځي، نو له دې پرته بله چاره نشته چي ورته ووایي: ملائکي وزرونه لري، ځیني ئې ډېري تېزي دي او ځیني ئې لږ، موږ د ډېر او لږ تېزوالي لپاره فقط وزر د معیار په توګه پېژنو، نو همدا به ویل کېږي چي د ځینو لږ او د ځینو ډېر وزرونه دي.

همدا راز د دې لپاره چي موږ په دې خبره پوه شو چي الله د زمکي او آسمانونو واکمن او مالك دئ، دا عالم د ده له لوري اداره کېږي او دلته د ده حکم نافذ دئ، زموږ په قاموس کې واکدار ته (مَلِك) او (مالك)ویل شوي، د واکمنۍ نښي ئې تخت او کرسۍ وي، د دې لپاره چي موږ ته د الله تعالی د واکمنۍ مطلب بیان شي او په دې پوه کړی شو چي الله تعالی د دې عالم مالك دئ او په چارو کې ئې د مالك او حاکم په توګه تصرف کوي، نو په دې مطلب د پوهېدو لپاره بله چاره نشته چي د

الله تعالی مالکیت او حاکمیت د هغو الفاظو په مرسته توضیح شي چي انسان ئې په خپل قاموس کې لري او د همدې مطالبو لپاره ئې کاروي، د هغو غیر محسوسو اشیاوو لپاره به مجبوراً همغه الفاظ استعمالوو چي انسان ئې د محسوسو شیانو لپاره کاروي، دې ته اړ یو چي د تشبیه له فن به کار اخلو او هغه نامحسوس شی به له یوه محسوس شي سره تشبیه کوو، ځکه موږ د غیرمحسوسو شیانو لپاره نومونه نه لرو، داسي الفاظ نه لرو چي هغه پرې معرفي کړو، د معرفي لپاره ئې بله چاره نه لرو مگر دا چي له همدغو محسوسو شیانو سره ئې تشبیه کړو.

دا موږ ته ښیي چي په قرآن کې د دوو شیانو په اړه بحث شوی: ځیني ئې هغه چي محسوس او مشهود دي او بل ئې هغه چي زموږ له درك او فهم لوړ او اوچت دي، هغه شیان چي زموږ له درك او فهم لوړ دي خو موږ ته باید معرفي شي، نو الله تعالی ئې په دې توگه موږ ته ښیي چي له محسوسو او مشهودو شیانو سره ئې تشبیه کوي او د متشابه آیتونو په ترڅ کې ئې موږ ته معرفي کوي، دا ځکه چي انسان د (خلیفة الله) په توگه د دغو شیانو په اړه هم علم ته ضرورت لري، باید هغه شیان هم وپېژني چي په خپلو سترگو ئې لیدلی نه شي، دا مطلب د یوه مثال په ترڅ کې توضیح کوو: انسان د یوه شي د درونداوالي او وزن لپاره تله استعمالوي، څه ته درونډ او څه ته سپك وایي، خو د معنوي اقدارو او اخلاقي موازینو د معلوملو لپاره هم همدغه د تلي د درونداوالي او سپك والي الفاظ استعمالوي او وایي: دا درونډ سړی دئ، مقصد ئې دا نه وي چي د هغه وزن زیات دئ، بلکې هدف ئې دا وي چي هغه مخور، معتبر او متین سړی دئ، پدې سره د هغه قدر، درونډ والی، وقار او متانت توضیح کوي، گورئ چي د انساني شخصیت هغه برخي چي په سترگو نه لیدل کېږي په هغو الفاظو بیانوو چي په اصل کې د محسوسو شیانو لپاره وضع شوي.

په الهي کتابونو کې هم د هغو اشیاوو په اړه بحث شوی چي انسان ته محسوس او مشهود دي، موږ ئې پېژنو او په خپلو سترگو ئې گورو او د هغو اشیاوو په اړه هم چي زموږ له فهم او درك لوړ دي، خو موږ اړیو چي هغه وپېژنو، دا ځکه چي که موږ په دې عالم کې خپله لار ټاکو، خپل مسیر تعیینوو او د عالم له ټولو اجزاوو سره د خپلي رابطې څرنگوالی ټاکو نو مجبور یو چي دا عالم وپېژنو، همدغه مطلب

ته قرآن عظيم الشأن داسي اشاره كوي:

سَنُرِيهِمْ ءَايَٰتِنَا فِى ٱلْءَافَاقِ وَفِىٓ أَنفُسِهِمْ حَتَّىٰ يَتَبَيَّنَ لَهُمْ أَنَّهُ ٱلْحَقُّ ۗ أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَىْءٍ شَهِيدٌ ۝٥٣ فصلت:٥٣

ډېر ژر به خپل آيتونه په آفاق (كائنات) كې هم او د دوی په خپلو نفسونو كې هم وروښيو تر څو ورته څرګنده شي چي هغه حق دئ، آيا ستا د رب په اړه دا كافي نه ده چي هغه په هرڅه شاهد دئ؟

يعني ستا په نفس او خپل ځان كې د قدرت نښي او په دې آفاق او عالم كې د قدرت نښي، د دې مقروء كتاب قرآن په حقانيت شهادت وركوي، دا ځكه چي الله د هرڅه شاهد دئ، د هرڅه شاهد خو به خود داسي څه وايي چي هر څه د ده د هري وينا په حقانيت شهادت وركړي.

په دې مبارك آيت سره الله تعالی فرمايي چي ژر به خپل آيتونه په آفاق او فضاء كې هم او د دوی په بدن كې هم وروښيم تر څو ورته څرګنده شي چي هغه حق دئ.

د دې مبارك آيت معنی دا ده چي الله تعالی به خلكو ته د قرآن د آيتونو مصداق او حقيقت هم په آفاق كې جوت كړي او هم د انسان د نفس په بېلو بېلو برخو كې، يعني قرآن چي د عالم او انسان په اړه كومي څرګندوني كړې دي؛ د دغو څرګندونو حقيقت به دوی ته جوت شي او په دې به پوه شي چي الله تعالی حق دئ او د ده كتاب رښتينی او له حقائقو ډك كتاب دئ. او دا ښيي چي د قرآن علمي اعجاز به ورو ورو خلكو ته جوتېږي.

دغو حقائقو ته په پام سره ده چي نن په غربي نړۍ كې هر كال په زرګونو خلك ايمان راوړي او په دوی كې ډېری ئې داسي څېړې دي چي په ساينسي علومو كې ئې څېړني او مطالعات كړي او په ترڅ كې ئې د قرآن حقيقت ورته څرګند شوی او ايمان ئې راوړی.

د قرآن په ګڼ شمېر آيتونو كې د عالم، آسمانونو، زمكي، لمر، ستورو، شپه، ورځ، د انسان پيدايښت، نباتاتو، حيواناتو، حشراتو، وريځو، بارانونو، بادونو، غرونو، سيندونو، سمندرونو او نورو طبيعي شيانو په اړه داسي دقيق او علمي بحثونه تر

سترګو کېږي چې انسان ډېر وروسته پرې پوه شوی، انسان له اوږد علمي سفر وروسته او د ډېرو پرمختللو وسائلو په مرسته توانېدلی دغه حقائق درك کړي او نن هغه خبره وکړي چې قرآن څوارلس پېړۍ وړاندې کړې وه.

يقيناً چې الله تعالی د خپلو آيتونو مصداق هم په آفاق، کائنات او عالم کې خلکو ته ښيي او هم ئې د دوی په خپلو نفسونو کې، ورو ورو د دوی علم د خپل نفس په اړه هم زياتېږي او د عالم او آفاق په اړه هم، په تدريج سره به د دوی علم، پوهه او تجارب اضافه کېږي، دا علم او پوهه به له يوه نسل بل نسل ته انتقالېږي او په دې توګه به دوی په آفاق او په خپل نفس کې د الهي آيتونو مصداق په خپلو سترګو وګوري او په دې به پوه شي چې دا حق دئ، الله حق دئ او د ده له لوري رالېږل شوی کتاب حق دئ. دا ځکه چې الله تعالی د دې عالم د هر جزء او توکي په اړه علم لري، د خپل دغه جامع او کامل علم له مخې ئې چې کوم کتاب رالېږلی د هغه د هرې وينا حقانيت او د هر قضاوت مصداق به هم په آفاق کې وګوري او هم په خپلو نفسونو کې.

قرآن د دې سترې ادعاء د اثبات لپاره دا دليل او توجيه وړاندې کوي: أَوَلَمْ يَكْفِ بِرَبِّكَ أَنَّهُۥ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ شَهِيدٌ : آيا ستا د رب په اړه دا کافي نه ده چې هغه په هرڅه شاهد دئ؟ يعني د هر شي په نسبت علم لري او د هغه د څرنګوالي شاهد دئ؟ د داسې شاهد ذات وينا خو به خود داسې وي چې هر څه د ده د هرې وينا په حقانيت شهادت ورکړي.

په دې توګه قرآن موږ ته لارښوونه کوي چې د دې الهي کتاب آيتونه هم زموږ د نفسونو په پټو او څرګندو برخو احتوی کړې او اړوند حقائق ئې موږ ته ښودلي او هم ئې د عالم په آفاق کې خواره حقائق احتوی کړي او د هر څه حقيقت ئې موږ ته ښودلی، خو موږ به په تدريج سره او ورو ورو په دې حقائقو پوهېږو. دا آيت موږ ته دا هم ښيي چې انسان به په تدريج سره او هر څومره چې د ده علم وده کوي او فهم او بصيرت ئې زياتېږي همدومره به د دې کتاب په حقانيت پوهېږي، د قرآن ډېر حقائق داسې دي چې انسان نن او د قرآن له نزوله څوارلس پېړۍ وروسته

د هغوی په حقیقت پوه شو، تر دې د مخه ډېرو ته مبهم، غامض او غیر قابل فهم برېښېدل.

همدې مطلب ته د قرآن عظیم الشأن یو بل آیت په دې توګه اشاره کوي:

... وَنَزَّلۡنَا عَلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ تِبۡيَٰنٗا لِّكُلِّ شَيۡءٖ وَهُدٗى وَرَحۡمَةٗ وَبُشۡرَىٰ لِلۡمُسۡلِمِينَ ٨٩ النحل:٨٩

... او پر تا باندې مو دا کتاب نازل کړ چې د هر څه لپاره څرګندونه او د مسلمانانو لپاره هدایت، رحمت او زېری دئ.

یعنې دې کتاب د دې عالم هر څه توضیح کړي، د دې عالم په اړه ټول ضروري علوم زموږ مخې ته ږدي، د عالم اړوند کلي مفاهیم په اختصار او ایجاز سره بیانوي، هر څومره چې انسان له دې کتاب سره مزید آشنا کېږي، همدومره به د هغه په ابعادو، اسرارو او رموزو باندې پوهېږي. دا کتاب هومره اسرار او رموز لري چې په دې ټول عالم کې دومره رموز نشته، دا چې الله تعالی فرمایي: قرآن (تبیانا لکل شئ) دئ، دا به مبالغه نه ګڼو، دا بېله خبره ده چې موږ لدې کتاب سره دومره نه یو آشنا شوي چې له هغه د هر څه د تبیین او پېژندنې رڼا تر لاسه کړو، دا کتاب هومره جامع او له اسرارو ډك دئ چې که ټول انسانان تر قیامت پورې په هغه کې تحقیق او څېړنه وکړي انتهاء او د اسرارو د عمیق بحر تل ته ئې نشي رسېدلی، د یوه انسان محدود عمر خو پرېږده چې هیڅکله ورته کفایت نه کوي.

دا کتاب تبیان دئ د هر څه لپاره او لارښوونه او د رحمت وسیله او ذریعه ده مسلمانانو ته، د دې کتاب په رالېږلو سره الله جل جلاله خپله لویه پېرزوینه د انسان په حال شامله کړه، دا ځکه چې انسان تر هر څه زیات چې کوم څه ته احتیاج لري هغه همدا د ده لارښوونه او هدایت دئ او دا د الله د رحمت وسیله ده، چا چې دې کتاب ته پناه یووړه، نو الله تعالی به خپل وسیع او پراخ رحمت د هغه په حال شاملوي او دا کتاب د هغو کسانو لپاره زېری دئ چې ورته تسلیمېږي، اطاعت ئې کوي او په ټول ژوند ئې حکومت کوي. له دې کتاب پرته انسان داسې دئ لکه مړی یا لکه ړوند، لکه څوك چې په تیارو کې ژوند کوي، په هغه کې حساس

وجدان مړ شوی وي، د ضمیر صفحه ئې زنګ وهلې وي او انساني مشاعر او عواطف ئې ختم شوي وي، داسي لکه مړی یا داسي لکه چي په تیاره کي خوځېږي، نه ځان لیدی شي، نه په خپل ماحول کي نور شیان او نه د پل ایښودو ځای او لوری.

قرآن عظیم الشأن دغه مطلب د الانعام په سورې کي په دې الفاظو توضیح کوي:

أَوَ مَن كَانَ مَيْتًا فَأَحْيَيْنَاهُ وَجَعَلْنَا لَهُۥ نُورًا يَمْشِي بِهِۦ فِي ٱلنَّاسِ كَمَن مَّثَلُهُۥ فِي ٱلظُّلُمَٰتِ لَيْسَ بِخَارِجٍ مِّنْهَا ۚ كَذَٰلِكَ زُيِّنَ لِلْكَٰفِرِينَ مَا كَانُوا۟ يَعْمَلُونَ ١٢٢ الانعام: ١٢٢

آیا هغه چي مړ وو، بیا مو راژوندی کړ او داسي رڼا مو ورپه برخه کړه چي په هغې سره په خلکو کي تګ کولی شي، هغه چا ته ورته دئ چي په داسي تیارو کي وي چي ترې وتونکی نه وي، کافرانو ته همداسي هغه څه ښایسته شوي چي دوی ئې کوي.

ګورئ چي دا کتاب انسان ته حقیقي ژوند ورپه برخه کوي، داسي روڼ مشعل په لاس کي ورکوي چي په رڼا کي ئې د خلکو ترمنځ تګ کولی شي، په دې رڼا سره خپله لار مومي، خلك پېژني، د دوی په منځ کي لار ځان ته پرانیزي او د مخکي تلو توان تر لاسه کوي. هو؛ دا هغه نور دئ چي په هغه سره د خلکو په منځ کي خپله لار پرانیستلی شې، له دې مشعل پرته چي هر قدم اخلې له یوه او بل سره به دي ټکر او تصادم راځي، که ستا ښي او کيڼ لاس ته څوك ولاړ او یا درسره روان وي، یا ستا د مسیر مخالف درومي، له ټولو سره به دي ټکر راځي، که غواړې چي د خلکو په منځ کي خپله لار بیا مومې او د دوی ښه او بد وپېژنې، فقط د دې کتاب په رڼا کي دا کار کولی شې، هغه تا ته نېك او بد معرفي کوي، مفید او مضر درته ښیي، دوست او دښمن درته ښیي، کافر او منافق درته ښیي، تاته په ډېر دقیق انداز هغه منافقین چي پېژندګلوي ئې ډېره ګرانه ده درمعرفي کوي، د همدې کتاب په رڼا کي هغه ملمع څېرې هم پېژندلی شې چي پېژندنه ئې ډېره ګرانه ده، د هغوی له الفاظو، د هغوی له کړنو، د جنګ او د صلحي په دوران کي د هغوی له موافقو، تبصرو او تحلیلونو، د فتح په وخت کي د هغوی له مواقفو، د ماتي په وخت کي د دوی له دریځ او تحلیل، له دې ټولو ته هغه پېژندلی شې، نو دا هغه روڼ مشعل دئ چي

حامل ئې د هغه په ذريعه د خلکو په منځ کې لار موندلی شي. آيا د دې روڼ مشعل حامل به هغه چا ته ورته وي چي په تيارو کې دئ، يوه تياره نه بلکي ګڼ شمېر تيارې يوه په بلې پسي، داسي تيارې چي ترې وتونکی نه دئ، د دې توان نه لري چي ترې ووځي او ځان وژغوري، د رڼا طرف ته ووځي او سمه لار ومومي، يعني په ذاتي توګه هغه استعدادونه نه لري چي په هغو سره له دې تياره محيط د نور او د رڼا لور ته ووځي، له دې ګڼ شمېر تيارو ځان په خپلو ذاتي استعدادونو نشي ژغورلی، ځان نشي پېژندلی، دا عالم او هستي نشي پېژندلی، خلك او د هغوی حقوق او له هغوی سره خپلې اړيکې او چلن نشي پېژندلی.

همدې مطلب ته د ابراهيم د سورې په لومړي آيت کې داسي اشاره شوې:

الٓرۚ كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ لِتُخۡرِجَ ٱلنَّاسَ مِنَ ٱلظُّلُمَٰتِ إِلَى ٱلنُّورِ بِإِذۡنِ رَبِّهِمۡ إِلَىٰ صِرَٰطِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَمِيدِ ١ ابراهيم: ١

الف لام را، دا هغه کتاب دئ چي ستا په لوري مو نازل کړ چي د دوی د رب په حکم سره خلك له تيارو د نور طرف ته وباسې، د ستايل شوي عزتمن ذات لاري ته.

يعني دا کتاب له تيارو د نور طرف ته د خلکو د ايستلو يوازينۍ وسيله ده، يوازې په دې سره خلك له تيارو د نور لوري ته وتلی شي، فضاء، ماحول، ځان، هستي، عالم او کائنات ورته مجهول او تك تور او تياره برېښي، پېژندلی ئې نشي او په هغه کې خپله لار موندلی نشي، الله تعالی دا کتاب نازل کړی ترڅو ته اې پيغمبره دا خلك له تيارو د نور لوري ته بوځې.

قرآن پيغمبر عليه السلام ته په داسي حال کې چي پيغمبر دئ، تر ټولو حساس فهيم او فکور انسان دئ، تر ټولو زيات بصير، پوه او خبير دئ، هغه ته هم فرمايي چي ته له دې مخکې چي کتاب درباندي نازل شي او وحي درته وشي، نه پوهېدلې چي کتاب څه دئ؟ او ايمان څه ته وايي؟

... مَا كُنتَ تَدۡرِي مَا ٱلۡكِتَٰبُ وَلَا ٱلۡإِيمَٰنُ وَلَٰكِن جَعَلۡنَٰهُ نُورٗا نَّهۡدِي بِهِۦ مَن نَّشَآءُ مِنۡ عِبَادِنَاۚ وَإِنَّكَ لَتَهۡدِيٓ إِلَىٰ صِرَٰطٖ مُّسۡتَقِيمٖ ٥٢ الشورى:٥٢

ته نه پوهېدې چي کتاب څه دئ او نه په ایمان پوهېدې، خو موږ (دا قرآن) داسي نور او رڼا وګرځاوو چي له خپلو بندګانو چي څوك وغواړو پرې هدایت کوو ئې او یقیناً چي ته مستقیمي لاري ته لارښوونه کوې.

یعني پیغمبر علیه السلام د قرآن له راتلو مخکي حتی په لیك لوست هم نه پوهېدو، دا خو پرېږده چي د ټول کتاب د علومو په اړه هغه وسیع او جامع علم ولري چي تر دې وروسته ئې په برخه شو، نه په لیك لوست پوهېدو او نه د کتاب او ایمان له حقیقته په دومره تفصیل سره خبر وو، چي د دې کتاب له راتلو وروسته پرې خبر شو، خو الله تعالی دا کتاب د ده لپاره داسي نور وګرځاوو چي ټول حقائق ئې د هغه په رڼا کي وپېژندل. قرآن عظیم الشأن د انعام د سورې په ۱۱۵ آیت کي فرمایي چي د الله کلام د صداقت او عدالت له پلوه بشپړ او پای او اتمام ته رسېدلی دئ، یعني صداقت او عدالت په هغه کي راخلاصه شوی، رښتیني کلمات همدا دي، عدل صرف په همدې سره تأمینېدی شي، دا د عدل د تأمین یوازینۍ وسیله او ذریعه ده او په همدې کي حق، حقانیت، صداقت او رښتینتوب خلاصه شوي، هلته چي فرمایي:

وَتَمَّتۡ كَلِمَتُ رَبِّكَ صِدۡقٗا وَعَدۡلٗاۚ لَّا مُبَدِّلَ لِكَلِمَٰتِهِۦۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ

١١٥

الانعام:۱۱۵

او ستا د رب کلام د صداقت او عدالت له پلوه بشپړ دئ، هیڅوك ئې د پرېکړو بدلوونکی نشي کېدی او هغه پوه اورېدونکی دئ.

دلته د دې الهي کتاب په اړه څو خبري شوې:

- دا ستا د رب کلام دئ.
- هره خبره ئې په بشپړه توګه رښتینې ده.
- هر قضاوت او حکم ئې په بشپړه توګه عادلانه دئ.
- هیڅوك ئې د پرېکړو، وعد او وعید د تحقق مخه نشي نیولی.

الله تعالی چي په دې کتاب کې څه ویلي، که دا د مؤمنانو او کافرانو د قول او عمل په اړه دي، که د توحید او شرك، حق او باطل، دنیا او آخرت په اړه دي، که د خلکو د عملونو د پایلو او عواقبو په اړه دي، ټول حق او رښتیني دي او دا د هغه ذات له لوري ویل شوي چي پوه اوریدونکی دئ.

## قرآن د پیغمبر د حقانیت ستره نښه ده

حقیقت دا دئ چي هر انسان د خپلي وینا، اخلاق او عملي ژوند له مخي پېژندل کېږي، لکه څنگه چي ونه له مېوې پېژندل کېږي شخصیتونه هم له خپل عمل او وینا پېژندل کېږي، موږ د قرآن عظمت ته په پام سره وایو چي د دې عظیم او ستر کتاب حامل حتماً د الله تعالی له لوري لېږل شوی پیغمبر دئ، موږ محمد علیه السلام په خپلو سترگو نه دئ لیدلی، د ده معجزې مو هم نه دي مشاهده کړې، خو د هغه قرآن له مخي چي ده خلکو ته وړاندي کړ، موږ پرې ایمان راوړی او د زړه سلول سلول مو په دې شهادت ورکوي چي دی یقیناً د خدای پیغمبر دئ، د ده لوړ اخلاق، د ده هغه پیغام چي خلکو ته ئې درلود، هغه تبدیلي چي ده د قرآن په رڼا کې په نړۍ کې راوسته، هغه انسان چي ده ئې د جوړولو هڅه کوله، دا موږ ته ثابتوي چي دی پیغمبر وو، موږ چي د عیسی علیه السلام له میلاده دوه زره کاله وروسته په بایبل کې داسي کوم کلام وگورو چي د یوه پیغمبر له شأن سره ښایي نو وایو چي دا به حتماً د عیسی علیه السلام وینا وي.

موږ د محمد علیه السلام تر ټولو ستره معجزه هغه قرآن گڼو چي د ده په مبارکو لاسونو نړۍ والو ته وړاندي شو، خو دا څنگه؟ ځیني خو داسي فکر کوي چي ښایي یوازې د بلاغت او فصاحت له پلوه به دا کتاب د پیغمبر علیه السلام معجزه وي، له ادبي اړخه دا کتاب دومره لوړ دئ چي د نړۍ هیڅ کتاب ورسره سیالي نشي کولی، که څه هم دا وینا په خپل ځای کې صحیح ده، دا الهي کتاب د بلاغت او فصاحت له پلوه ستره معجزه ده، د قرآن ادبي اعجاز په هغه روایت کې ډېر ښکلی انځور شوی چي وایي: په قرېشو کې معمول دا وه چي هر کال به شعراوو او لیکوالانو له خپلو اشعارو او لیکنو تر ټولو غوره شعر، نظم او نثر غوره کولو، هغه به ئې د کعبې په دېوال ځوړندولو، بیا به د کال په یوې ځانگړې ورځ د یوه خاص هیئت

لخوا دا ټول اشعار، نظمونه او نثرونه په دقت سره څېړل کېدل، تر ټولو لوړ کلام به ئي غوره کاوو، نور به ئي راکوزول او یوازې همدا غوره شعر، نظم یا نثر به ئي پرېښودو او لیکونکي به ئي د کال جائزه ترلاسه کوله، یو ځل یوه صحابي د پیغمبر علیه السلام له اجازې پرته، د کوثر سوره چي په هماغو ورځو کي نازله شوې وه، په پټه رااخلي او په همدغسي و خت کي ئي په دېوال باندي نصبوي، هیئت راځي او ټولي پاڼي او لیکني له نظره تېروي، له یوې او بلي تېرېږي، د کوثر سورې ته رارسي، نوري ټولي لیکني راکوزوي او یوازي دغه سوره پرېږدي او ترې لاندي لیکي: په خدای قسم چي دا د بشر وینا نه ده، یعني دا وینا د بشر له توانه ډېره اوچته ده، دا سمه خبره ده چي د بلاغت او فصاحت له پلوه قرآن عظیم الشأن د پیغمبر ستره معجزه ده. دا هم د قرآن یو ستر اعجاز دئ چي د نزول له نېټې تر ننه په ملیونونو خلکو هغه حفظ کړی، تاسو به په ټولي نړۍ او په ټول بشري تاریخ کي هیڅ داسي مذهبي او غیر مذهبي، د شعر یا د نثر کوم کتاب ونه مومئ چي د قرآن په اندازه حافظان ولري!! موږ د نورو کتابونو او مذهبونو له منونکو پوښتنه کوو: دا ولي تاسو په خپل اوږده تاریخ کي د خپل مذهبي کتابونو محدود شمېر حافظان هم نه لرئ؟!! ځواب ئي څرګند دئ؛ انسان هغه کلام ژر حفظ کولی شي چي د زړه دړه ئي ورته پرانیستل شي، له عقل سره ئي اړخ ولګوي، محتوی ئي لوړه او د الفاظو ترکیب ئي خوندور وي، قرآن له دغه پلوه هم معجزه ده. خو په حقیقت کي قرآن له یوې بلي ناحیې تر ټولو ستره او لویه معجزه ده، هغه اسرار او رموز چي په قرآن کي شته، هغه دقیقي، ژوري او هراړخیزي څېړني او د انسان او عالم د معرفي او پېژندګلوۍ لپاره چي قرآن څه قضاوتونه کړي، له دې ناحیې قرآن تر ټولو لویه او ستره معجزه ده. د طبعیت او کائنات په اړه چي قرآن عظیم الشأن کوم بحثونه کړي، علم څوارلس سوه کاله وروسته پرې پوهېږي چي په دې اړه د قرآن وینا حق ده. زه ئي څو محدود مثالونه ستاسو مخي ته ږدم:

قرآن فرمایي: دا زمکه، آسمانونه، ستوري او لمرټول سره یو ځای او یوه کتله وه او موږ د یوه شدید انفجار په نتیجه کي سره بېل کړل:

أَوَ لَمۡ يَرَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ أَنَّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ كَانَتَا رَتۡقٗا فَفَتَقۡنَٰهُمَاۖ

وَجَعَلۡنَا مِنَ ٱلۡمَآءِ كُلَّ شَيۡءٍ حَيٍّۚ أَفَلَا يُؤۡمِنُونَ ٣٠ الانبياء:٣٠

آيا كافرانو دې ته پام نه دئ كړی چې آسمانونه او زمكه سره نښتي ول، نو موږ سره بېل كړل او هر ژوی مو له (اوبو) پيدا كړی، نو آيا ايمان نه راوړي؟!

د دې مبارك آيت لارښووني دا دي:

- دا مبارك آيت په ډېر صراحت او وضاحت سره وايي چې په سر كې ټول كائنات، زمكه، لمر او د آسمان ټول اجرام يوه كتله وه او الله تعالی په يوې چاودنې سره دوی بېل بېل كړل او اوسنۍ بڼه ئې وركړه. د (رتق) معنی پيوستون او يو له بل سره نښتل ده، او د (فتق) معنی بېلتون او جلا كېدا ده، يعني د عالم هر څه كه دا په آسمانونو كې دي او كه په زمكې كې سره پيوست او نښتي ول او الله تعالی سره جلا جلا او بېل بېل كړل.

- د ټولو ژوو د پيدايښت لومړۍ او اساسي ماده اوبه دي، الله تعالی ټول ژوي له اوبو پيدا كړي.

- د ايمان راوړو لپاره دغه دوه دلائل كافي دي، آيا د دغو دوو څرګندو دلائلو له ليدو او اورېدو سره سره كافران ايمان نه راوړي؟!! (افلا يؤمنون؟!!)

- مخكې له دې چې د قرآن دا وينا وڅېړو بايد ووايو چې دا څه عادي او معمولي خبره نه ده، د دې خبرې په ارزښت او اهميت هغه څوك ښه پوهېږي چې د عالم د پيدايښت په اړه ئې ژور علمي تحقيقات او څېړنې كړې، د ډېرو ساينسپوهانو نظريات او تحليلونه ئې لوستلي، تجربې ئې كړې او له كلونو كلونو تحقيق وروسته دغې نتيجې ته رسېدلی چې د قرآن په پورتني آيت كې ورته اشاره شوې، كه تاسو د قرآن دغه آيت د همداسې كوم ساينسپوه مخې ته كېږدئ او ورته ووايئ: زموږ په دغې ديني كتاب كې څوارلس پېړۍ مخكې ليكل شوي چې آسمانونه او زمكه سره نښتي او پيوست ول او الله تعالی سره بېل كړي، نو يقيناً چې هغه به يا اعتراف كوي چې دا د الله تعالی له لوري لېږل شوی كتاب دئ، انسان نشو كولی چې له شلمې پېړۍ وړاندې د عالم د پيدايښت په اړه داسې علمي او دقيقه وينا وكړي، يا خو به دا خبره هغه ته لږ تر لږه دومره حيرانوونكې وي چې د څه ويلو

توان به ترې سلب کړي.

که ځوك په شفاف ذهن سره دې آيت ته ځير شي نو له الفاظو ئې څو نتائج تر لاسه کوي:

- په سر کې به دا زمکه، لمر، سپوږمۍ او ټول ستوري سره نښتي وو، د بېلېدو پر مهال به زمکه، سپوږمۍ او نور ستوري داسې ځلانده او تاوده ول لکه لمر، ورو ورو به ځينو خپله رڼا او تودوخه له لاسه ورکړې وي!!

لابد به زموږ زمکه له نورو د رابېلېدو په وخت کې د لمر په څېر گرمه او سره وه، دا ځکه چې دواړه يو ځای وو او په يوه وخت کې سره بېل شوي. لمر چې ستر دئ خپل حرارت ئې تر ننه حفظ کړی، خو زمکه چې تر لمر ډېره وړه ده، ورو ورو سړه شوې، سر ئې سوړ او زړه ئې لاتراوسه تود او سخت گرم پاته شوی، هومره تود چې هرڅه په کې ويلي، د قرآن په اصطلاح هر څه په کې (نحاس: ويلي) دي. او دا هغه څه دي چې هم ئې زموږ عقل راته وايي او هم ئې ساينس د تجربو او مشاهداتو له مخې وايي. د زمکې پر سر هره ورځ د داسې صحنو شاهد يو چې دلته او هلته د زمکې له زړه څخه دغه نحاس او ويلي سره او خوټېدونکې مواد راوځي، بهېږي او د اور د سکروټو په څېر شيندل کېږي او موږ د زمکې د زړه له تودوخې خبروي، تحقيقات ښيي چې د زمکې د زړه تودوخه د سانتي گرېډ په حساب څو زره درجې ده.

د دې وينا بله طبيعي نتيجه دا ده چې د زمکې بهرنی قشر به له سړېدو وروسته د ډبرې په څېر کلك وو، داسې لکه د اورشيندو په ترڅ کې چې د زمکې د زړه ويلي مواد راوځي او د زمکې پر سر له بهېدو وروسته کلکه ډبره ترې جوړېږي، د زمکې دا ډبرين پوستکی به ورو ورو په خاورې بدل شوی وي، دا هم هغه څه دي چې زموږ عقل ئې راته وايي او د ساينسي څېړنو په ترڅ کې ثابت شوي، د زمکې اصلي برنی پوستکی ډبرين دئ، دا پوستکی په ځينو برخو کې په ډبرې خاورې او په ځينو کې په لږ خاورې پوښل شوی، دغه پوستکې د زمکې د زړه ويلي او تاوده توکي داسې په خپلې غېږ کې راتم کړي لکه د بخار په ديگ کې خوټېدونکي مواد، د زمکې پر سر اورشيندي هغه مهال او په هغه سيمه کې راڅرگندېږي چې دا پوستکی وچوي او له

چاودونو ئې د ځمکې د زړه ويلې مواد بهر راووځي.

د ځمکې او د ځمکې پر سر د ژوو د پيدايښت په اړه محققين وايي: ځمکه له خپل پيدايښت وروسته سخته توده او سره وه، د ځمکې قشر او پوستکی ورو ورو سوړ شو، خو د سختې تيږې په څېر وو، لومړی اوبه راپيدا شوې، د ځمکې ټولې اوبه د پړپړو وريځو په بڼه کې تر ځمکې راتاو وې، د بارانونو وربدا پيل شوه، د باران او ګڼ شمېر نورو عواملو په وجه د ځمکې د سر دا ډبرين پوستکی ورو ورو په خاوره بدل شوی، سېلابونو دا خاوره له ځان سره د ځمکې آوارو او ژورو برخو ته انتقال کړه، د ځمکې تودوخه لا هومره وه چې اوبه ئې د ځان د پاسه نه پرېښودې، د اوبو د تبخير په نتيجه کې سېلاب راوړې خټه په کړنګېدونکې وچې خټې او کودړې بدله شوه، خو د ځمکې د مزيد سړېدو او مزيد بارانونو په نتيجه کې داسې حالت راپيدا شو چې له يوې خوا د پړپړو وريځو پرده څېرې شي او د لمر وړانګې ځمکې ته ورسي او له بلې خوا د ځمکې د سر خاوره په لومړي سر کې ټمجنه خټه او وروسته توره بوی ناکه خټه شي، د ځمکې پر سر د ژوو پيدايښت په دغه مرحله کې پيل شو.

راشئ د محققينو او ساينسپوهانو دا وينا د قرآن د وينا په څنګ کې کېږدو او وګورو چې قرآن د دغو نظرياتو په اړه څه ويلي، آيا په قرآن کې داسې څه مومو چې دغو بېلو بېلو مراحلو او د ځمکې د سر تغييراتو ته ئې اشاره کړې وي؟ که داسې وي چې قرآن دغو خبرو ته په واضح الفاظو اشاره کړې وي، همغسې لکه د پيدايښت د پيل او د ځمکې او آسمانونو د پيوستون او بېلتون په اړه چې ئې ويلي، نو آيا د دې معنی به دا نه وي چې ساينسپوهان په هغه څه ډېر وروسته پوه شوي چې قرآن څوارلس سوه کاله د مخه ويلي؟!!

راشئ وګورو چې قرآن د ځمکې د زړه د ډېرې تودوخې او په هغه کې د ويلې شوو توکو په اړه څه ويلي، د قرآن لاندې آيتونو ته لږ ځير شئ:

يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ٣٣ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٤ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ٣٥ الرحمن:

اې د انسانانو او پېريانو ټولگيو! که کولی شئ چي د آسمانونو او زمکي له اقطارو ووځئ نو ووځئ، وتلی نشئ مگر په ځانگړي ځواك سره، نو د خپل رب کوم کوم نعمتونه تکذيبوئ؟ پر تاسو به د اور داسي شعلې او داسي ويلي مس لېږل کېږي چي مقابله ئې نشئ کولی.

په دې آيتونو کې د قرآن دوه ستر ستر علمي اعجاز زموږ مخي ته ځلېږي: يو دا چي وايي: که آسمان ته بر ولاړ شئ نو له داسي بې دوده لمبو سره به مخامخ شئ چي مقابله ئې نشئ کولی، يعني د آسمان په برنۍ برخي کې د شهاب ثاقب تېزي او تودې لمبې دومره زياتي او زوروري دي چي تاسو ئې له مقابلې عاجز يئ!! او دا هغه حقيقت دئ چي انسان اوس او هغه مهال پرې پوه شو چي سپوږمۍ او ستورو ته ئې د ختلو لړۍ پيل کړه او متوجه شو چي دا شهاب ثاقب د فضائي سفرونو په وړاندي داسي ستر گواښ دئ چي مقابله ئې نشي کېدی. يقيناً چي دا د قرآن يو بل علمي اعجاز دئ، نن او له ډېرو ژورو تحقيقاتو وروسته انسان ته جوته شوې چي آسمان ته د لوړ تلو په لار کې تر ټولو ستره مانع او خنډ هغه شهاب ثاقب (د اور د لمبو په څېر لوېدونکي آسماني اجرام) دي چي هره شېبه، له هر لوري راغورځي، ځان ترې ساتل او خوندي ترې تېرېدل ممکن نه دي، د دغو لمبو حرارت، سرعت، زور او فشار دومره لوړ وي چي هر څه ويلي کوي او هيڅ څه ئې مخي ته تم کېدی نشي. انسان تر نن پوري د خپل واړه شمسي نظام څو ستورو ته رسېدلی يا نږدې شوی، تر دې وړاندي تگ يوازي په هغه صورت کې ورته ممکن دئ چي وسيله ئې له شهاب ثاقب سره له تصادم کولو خوندي پاته شي.

د دې مبارك آيت بل علمي اعجاز دا دئ چي وايي: که د زمکي له يوه پلوه بل ته د وتلو هڅه وکړئ نو له (نحاس: ويلي شوي مس) سره به مخامخ شئ، يعني د زمکي په منځ او سينه کې هر څه ويلي دي، د تودوخي درجه دومره لوړه ده چي هر څه ئې ويلي کړي، تاسو نشئ کولی له دې برخي د تېرېدو توان ترلاسه کړئ. او دا هغه څه دي چي ساينس اوس پرې پوه شوی!! د قرآن بل آيت دې مطلب ته داسي اشاره کوي:

ءَأَمِنتُم مَّن فِي ٱلسَّمَآءِ أَن يَخۡسِفَ بِكُمُ ٱلۡأَرۡضَ فَإِذَا هِيَ تَمُورُ ١٦ الملك: ١٦

آیا له هغه چي په آسمان کي دئ له دې پلوه خوندي شوي يئ چي په زمکي کي مو ښخ کړي چي ناڅاپه به بيا خوځي؟

په دې مبارك آيت کي چي د قرآن يو ستر علمي اعجاز زموږ مخي ته اېښودل شوی څو اساسي مطالبو ته اشاره شوې:

الف: مگر گمان کوئ دا آواره زمکه چي تاسو ته ئې پر خپلو اوږو ځای درکړی، او ستاسو د رزق او روزي د تأمين وسيله ده، همداسي به د تل لپاره ستاسو په خدمت کي وي او دا اوسنی حالت ئې تلپاتی، مستمر او ثابت دئ او هيڅکله به تغيير په کي نه راځي؟ مگر له دې هيڅ وېره نه لرئ چي د عالم ټولواك رب له بره دا فرمان صادر کړي چي د زمکي دا آرام او ډاډمن حالت بدل کړي، داسي چي نه نور ستاسو په خدمت کي وي، نه تاسو پر خپلو اوږو يوسي، او نه رزق او روزي درکړي، بلکي برعکس ستاسو په هدېرې بدله شي، تاسو تر خاورو لاندي کړي، سخته خوځېدا او لړزېدا ئې په خپلو سترگو وگورئ؟!! څه شي ډاډه کړي يئ؟ څه شي د داسي حالت له راتلو مطمئن کړي يئ؟ د دې کاذب ډاډ او اطمئنان لپاره څه دليل لرئ؟

ب: په دې آيت کي د خسف: د زمکي کښېناستل او ننوتل له (لړزېدا او خوځېدا) سره يو ځای ذکر شوي، د بيان اسلوب داسي دئ چي ښيي که د زمکي کومي برخي کي خسف رامنځته شي نو لړزېدا به ورپسې وي، او دا هماغه خبره ده چي ساينس ئې نن د زمکي د زلزلو د عواملو په اړه کوي.

علمي تحقيقات ښيي چي د زلزلې يو اساسي سبب خسف دئ، وايي چي د زمکي منځنۍ برخه، د سختي تودوخي په وجه د خوټېدو په حالت کي ده او هر څه ئې ويلي او ذوب شوي دي، دا توده او ويلي برخه په کلك پټوکي چي کلکي ډبرې ته ورته دئ، احاطه شوې، د زمکي پورتنۍ خاورينه برخه د همدې ډبرين پوټکي په ذريعه له منځنۍ برخي بېله شوې، کله چي دا ډبرين پوټکی، د زمکي په کومي برخي کي، د برني يا داخلي فشار او د نورو عواملو په نتيجه کي مات شي او د زمکي هماغه برخه د مذاب او ويلي موادو د پاسه واقع شي، هلته زلزلې پيل شي.

کوم مطلب چي په دې آيت کي د خسف او زلزلې په اړه ويل شوی، يوازي په تېري

پېړۍ کې او له ژورو څېړنو او تحقیقاتو وروسته انسان ته معلوم شو.

همدا راز دا آیت ښیي چې کله زمکه خسف شي نو داسي برخه ئې راڅرګنده شي چې خوځېږي، د زمکې د زړه ویلې او خوځېدونکې توکې راڅرګند شي، او دا هغه حقیقت ته په واضح توګه اشاره کوي چې وایي: د زمکې د زړه توکې مذاب او ویلې دي.

تاسو د الأنبیاء د سورې په دېرشم آیت کې ولیدل چې د آسمانونو او زمکې له پیدایښت سره متصل د اوبو او له اوبو د ټولو ژوو پیدایښت ته اشاره کوي او وایي: آیا کافران په دې نه پوهېږي چې آسمانونه او زمکه سره (نښتي) وو، نو موږ سره (بېل) کړل او هر ژوی مو له (اوبو) پیدا کړی، نو آیا ایمان نه راوړي؟! په دې آیت کې او یو په بل پسي د زمکې او آسمان له پیدایښت سره متصل د اوبو او له اوبو د هر ژوي د پیدایښت ذکر دا مطلب په ګوته کوي چې د زمکې پر سر تر ټولو د مخه اوبه پیدا شوې. او دا هغه حقیقت دئ چې قرآن څوارلس سوه کاله مخکې بیان کړی دئ او ساینس اوس پرې پوهېدلی. نن چې ته له هر ساینس پوه د زمکې، آسمان او اوبو د پیدایښت په اړه پوښتنه وکړې، نو ځواب به ئې همدا وي چې قرآن ویلي. ساینسپوهان وایي چې هایډروجن تر ټولو سپك عنصر دئ چې اتم ئې له یوه پروټون او یوه الیکټرون جوړ شوی او د زمکې پر سر له لومړنیو جوړ شوو عناصرو څخه دئ، هیلیوم ورپسې دئ چې اتم ئې یو پروټون او دوه الیکټرون لري، هایدروجن د اوبو د ترکیب دوه درېیمه برخه ده، دوه مالیکول هایدروجن له یوه مالیکول آکسیجن سره یو ځای شوي او اوبه ترې جوړي شوې. نور عناصر وروسته جوړ شوي او اړوند مرکبات ئې هم وروسته راپیدا شوي. قرآن د هود د سورې په اوم آیت کې فرمایي:

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضَ فِى سِتَّةِ أَيَّامٍ وَكَانَ عَرْشُهُۥ عَلَى ٱلْمَآءِ لِيَبْلُوَكُمْ أَيُّكُمْ أَحْسَنُ عَمَلًا ۗ وَلَئِن قُلْتَ إِنَّكُم مَّبْعُوثُونَ مِنۢ بَعْدِ ٱلْمَوْتِ لَيَقُولَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓا۟ إِنْ هَٰذَآ إِلَّا سِحْرٌ مُّبِينٌ ۷ هود: ۷

او دی (الله) هغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې په شپږو ورځو کې پیدا کړل،

او عرش ئې پر اوبو وو، تر څو تاسو وآزمويي چې کوم يو مو د عمل له مخې تر ټولو غوره دئ، او که ته ووايې چې تاسو به له خپلې مړينې وروسته هرومرو راپاڅئ نو هغه چې کفر ئې کړی حتماً به ووايي: دا له څرګند جادو پرته بل څه نه دئ!!

په دې مبارك آيت کې ويل شوي چې الله تعالی آسمانونه او زمکه په شپږو ورځو کې پيدا کړل، په داسې حال کې چې عرش ئې پر اوبو وو. د دې آيت په تفسير کې د درنو مفسرينو تر منځ ژور اختلاف تر سترګو کېږي، هم په دې اړه چې آيا له شپږو ورځو همدا زموږ اوسنۍ ورځې مراد دي او که شپږ تکويني مرحلې؟ او هم په دې اړه چې د دې فقرې معنی څه ده چې د آسمانونو او زمکې د پيدايښت پر مهال د الله عرش پر اوبو وو؟ آيا عرش او اوبه د زمکې او آسمانونو له پيدايښته مخکې پيدا شوي؟ آيا عرش داسې شی دئ چې د بل څه پر سر ولاړ وي همغسې لکه د زمکې کوم تخت؟ او که معنی ئې دا ده چې هغه مهال يوازې اوبه د الله تعالی تر واکمنۍ لاندې وې او نور څه نه وو؟ آيا له اوبو څخه مراد همدا زموږ اوسنۍ د څښلو اوبه دي که دا چې هغه مهال آسمانونه او زمکه د اوبو په څېر (ويلې او مايع) وو؟

د دې مبارك آيت په اړه څو خبرې په پام کې ولرئ:

- دلته د الله تعالی په اړه د (عرش) او (ورځې) يادونه شوې، انسانانو دا دوه نومونه د خاصو شيانو لپاره وضع کړي، کله چې دې ته ورته نومونه د الله تعالی په اړه راځي نو موږ ئې په هغه متبادره معنی نشو اخيستی چې انسانان ئې ورته کاروي، نه عرش داسې شی دئ چې د زمکې کوم تخت ته ورته وي او نه دا ورځ هغه موده ده چې زموږ له دولسو ساعتونو سره برابره وي، په کومو آيتونو کې چې داسې الفاظ د غيبي امورو لپاره راشي هغوی ته متشابه آيتونه ويل کېږي، په هغوی کې داسې غيبي شيان چې انسان ورته نوم نه لري په داسې الفاظو ياد شوي چې انسان د ليدل کېدونکو شيانو لپاره وضع کړي، په دې سره موږ ته د غيبي شيانو په اړه نسبي معلومات راکول کېږي، د دې يو مثال همدا د (ورځ) اصطلاح ده چې قرآن ئې يو ځای د داسې مودې لپاره راوړي چې زموږ له زرو کلونو سره برابره ده، او بل ځای ئې د پنځوسو زرو کلونو اوږدې مودې لپاره کاروي، نو دا

شپږ ورځې هم دا زموږ شپږ ورځې نه دي چې نږدې دوه اويا ساعتونه کېږي بلکې شپږ تکويني مراحل دي چې اوږدوالی ئې يوازې الله تعالی ته معلوم دئ. د دې تفصيل د الاعراف د سورې د ٥٤ آيت په تفسير کې ولولئ.

- د آيت د دې فقرې (وكان عرشه على الماء) په اړه درنو مفسرينو بېل بېل آراء وړاندې کړې، د ځينو له تعبيرونو داسې معلومېږي چې ګواکې د الله تعالی عرش به د زمکې د سر کوم تخت ته ورته شی وي او پر اوبو باندې ئې اوسېدا همغسې لکه د اوبو پر سر د کوم تخت ودرېدا!! په داسې حال کې چې نه د الله تعالی عرش د زمکې کوم تخت ته ورته دئ او نه ئې پر اوبو اوسېدا داسې ده لکه پر اوبو د زمکې د کوم تخت ودرېدا، نه عرش ازلي شی دئ او نه اوبه، نه د دغو الفاظو مراد او معنی دا ده چې د الله تعالی عرش د اوبو له پاسه وو او نه د الله تعالی عرش داسې شی دئ چې د ودرېدو لپاره کومې آوارې سطحې ته ضرورت لري، الله تعالی دا آسمانونه له کومې ستنې پرته ودرولي نو عرش به ئې څنګه داسې څه ته اړ وي؟! دا غلطې انګېرنې او ناسم تصورات د هغه چا د تنګ او تياره ذهن زېږنده دي چې الله تعالی او عرش ئې د زمکې د سر له مخلوقاتو سره تشبيه کوي، د آيت معنی دا نه ده چې د آسمانونو او زمکې د پيدايښت پر مهال د الله تعالی عرش د اوبو پر سر داسې ولاړ وو لکه د زمکې کوم تخت چې پر اوبو ولاړ وي!! ځوك چې د دې آيت په تعبير کې دغه غلط اسلوب غوره کوي له داسې پوښتنو سره مخامخ کېږي چې هيڅ ځواب ورته نشي موندلی، لکه دا چې: عرش تر اوبو مخکې چېرې وو او پر څه ولاړ وو؟ الله تعالی تر عرش مخکې چېرې وو او پر څه ئې استوی کړې وه؟

- د يوه آيت په اصلي مطلب هغه مهال ښه پوهېدی شو چې وګورو په کوم مناسبت راغلی؟ د بحث اصلي موضوع ئې څه ده؟ تر هغه مخکې او وروسته څه ويل شوي؟ که دلته لږ ځير شو نو راته جوته کېږي چې دا آيت له مخکنې آيت سره ژور ارتباط لري، په مخکنې کې ويل شوي چې د ټولو ژوو او ساکښو روزي د الله تعالی پر ذمه ده، همغه الله چې د دوی د پيدايښت او مړينې له ځايونو خبر دئ، ورپسې ويل شوي چې الله همغه ذات دئ چې آسمانونه او زمکه ئې پيدا کړې، تاسو پوهېږئ چې د رزق او روزي اصلي اسباب آسمان او زمکه دي چې له يوه

باران راوروېږي او لمر ئې زمکې ته رڼا او تودوخه ورکوي او بله ئې دانه او مېوه راشنه کوي، او بیا په آسمان او زمکې کې د رزق تر ټولو مهم او اساسي توکی اوبه دي چې ورېږي، ذخیره کېږي، د زمکې پر سر روانېږي ئې د الله تعالی په حکم دي، چې خبره داسي ده نو باید پوه شې چې واقعاً الله تعالی د ټولو ژوو د رزق او روزي ذمه وار دئ، او دا همغه مطلب دئ چې په همدې توګه د العنکبوت په سوره کې په دې ښه راغلی:

وَكَأَيِّن مِّن دَآبَّةٍ لَّا تَحۡمِلُ رِزۡقَهَا ٱللَّهُ يَرۡزُقُهَا وَإِيَّاكُمۡۚ وَهُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ
٦٠ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّنۡ خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَسَخَّرَ ٱلشَّمۡسَ وَٱلۡقَمَرَ
لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۖ فَأَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ٦١ ٱللَّهُ يَبۡسُطُ ٱلرِّزۡقَ لِمَن يَشَآءُ مِنۡ عِبَادِهِۦ
وَيَقۡدِرُ لَهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ بِكُلِّ شَيۡءٍ عَلِيمٞ ٦٢ وَلَئِن سَأَلۡتَهُم مَّن نَّزَّلَ مِنَ ٱلسَّمَآءِ
مَآءٗ فَأَحۡيَا بِهِ ٱلۡأَرۡضَ مِنۢ بَعۡدِ مَوۡتِهَا لَيَقُولُنَّ ٱللَّهُۚ قُلِ ٱلۡحَمۡدُ لِلَّهِۚ بَلۡ
أَكۡثَرُهُمۡ لَا يَعۡقِلُونَ ٦٣ العنکبوت: ٦٠-٦٣

او څومره ژوي داسي دي چې خپله روزي نه وړي، الله هغوی ته روزي ورکوي او تاسو ته هم، او هغه پوه اورېدونکی دئ، او که ئې وپوښتې چې آسمانونه او زمکه چا پیدا کړي او لمر او سپوږمۍ چا مسخر کړي؟ حتماً به ووایي: الله؛ نو څنګه دوکه کېږئ، دا خو الله دئ چې په خپلو بندګانو کې هغه چا ته روزي پراخوي چې دی ئې غواړي او یا ئې ورته محدوده او تنګه کوي، یقیناً چې هغه پر هر څه ښه پوه دئ، او که ئې وپوښتې چې له آسمانه څوك اوبه راکوزوي او په همدې سره زمکه له خپلي مړیني وروسته راژوندۍ کوي؟ حتماً به ووایي: الله؛ ووایه: ستاینې ټولي الله لره دي خو د دوی ډېری نه پوهېږي.

په دې آیتونو کې هم ګورئ چې لومړی ژوو ته د رزق او روزي ورکولو خبره شوې او بیا د آسمانونو او زمکې د پیدایښت، د لمر، سپوږمۍ د تسخیر (چې شپه او ورځ په ګوته کوي او دا دواړه د رزق او روزي مهم اسباب دي)، بیا له آسمانه د اوبو

راوربېدا او بیا په زمکي کي د ژوندون پیلېدا ته اشاره شوې او په دې توګه موږ ته ویل شوي چي رزق او وسائل او اسباب ئې د الله له لوري پیدا شوي او ذمه وار ئې الله تعالی دئ، هغه دا پرېکړه کوي چي چا ته څومره رزق او روزي ورکړي. که لږ ځیر شئ نو درته جوته به شي چي د دغو دواړو سورتونو په دغو آیتونو کي بشپړ ورته والی او یو د بل شرح او تفسیر دئ.

دې ته مو هم باید پام وي چي لکه په (علی الله رزقها) کي (علی) د فوقیت او بروالي په معنی نشو اخیستی او داسي نه شو ویلی چي رزق ئې د الله د پاسه دئ بلکي وایو رزق ئې د الله پر (ذمه) دئ، همداسي په (کان عرشه علی الماء) کي نه شو ویلي چي عرش ئې د اوبو له پاسه ولاړ وو، بلکي باید ووایو: اوبه د الله تعالی د واکمنۍ تر عرش لاندي وې. ځکه دلته د بحث اصلي موضوع همدا ده چي د رزق او روزي وسائل د الله تعالی په واك کي دي.

تاسو پوهېږئ چي اوبه د ژوو د رزق تر ټولو مهمه برخه ده، دانه، مېوه او واښه هم په اوبو راټوکېږي، په دې آیت سره موږ ته لارښوونه شوې چي الله تعالی د ژوو له پیدایښته مخکي د دوی روزي پیدا کړې، داسي لکه د ماشوم له پیدا کېدو مخکي چي د مور په تي کي شیدې ورته پیدا کوي.

دې مبارك آیت ته هم ځیر شئ:

﴿فَإِن لَّمۡ تَفۡعَلُواْ وَلَن تَفۡعَلُواْ فَٱتَّقُواْ ٱلنَّارَ ٱلَّتِي وَقُودُهَا ٱلنَّاسُ وَٱلۡحِجَارَةُۖ أُعِدَّتۡ لِلۡكَٰفِرِينَ ٢٤﴾ البقره:٢٤

او که د هغه څه په اړه شك لرئ چي مونږ پر خپل بنده نازل کړی، نو له الله پرته خپل شاهدان راوبلئ او د هغه په څېر یوه سوره خو راوړئ که رښتیني یئ. او که ونه توانېدئ او هیڅکله نه شئ توانېدی نو له هغه اور ځان وساتئ چي سوند ئې خلك او ډبري دي، د کافرانو لپاره تیار کړی شوی.

د قرآن د علمي اعجاز یوه بېلګه تر دې آیت د مخه ذکر شوې او یوه هم په دې آیت کي او هلته چي فرمایي: (له هغه اور ځان وساتئ چي سوند ئې خلك او ډبري دي) د قرآن د نزول په وخت کي هیچا دا خبره نه شوی منلی چي ډبري هم د اور

سوند کېدی شي، معلومه نه ده چي مخالفينو به هغه وخت په دې خبري باندي ځومره ټمسخر کړی وي، ځومره به ئې په خپلو مجالسو کې ويلي وي چي دا لېونيان اوس دا خبره هم مني چي ډبري سوزي، هيڅ عاقل انسان د ډبرو سوزېدل نه مني!! خو تاسو اوس يوه فزيك پوه ته ووايئ: جنابه! آيا ډبري سوزي؟ هغه به ډېر ژر او له کوم تأمل پرته درته ووايي: هو؛ سوزي، يوازي ډبري نه بلکې هرڅه، حتی اوسپنه هم، هرڅه د اور په اوچتو درجو کې سوزي، دغه اوبه او دا خاوره هم چي ته ئې د اور وژلو لپاره کاروې. او که هغه ته ووايئ: زمونږ په دغه کتاب کې چي څوارلس پېړۍ وړاندي تېري شوې راغلي چي ډبري به د اور سوند وي، هغه وخت زمونږ د کتاب په دې خبري مخالفينو ملنډي وهلې او دا ئې ستر دروغ ګڼلو، ما ته ووايئ: د دې فزيك پوه غبرګون به څه وي او د دې کتاب او د هغه د وړاندي کوونکي په اړه به څه فکر کوي؟

د انسان له پيدايښت او ده ته د رزق او روزي له برابرولو وروسته، په ده باندي د الله تعالی تر ټولو ستره پېرزوينه دا ده چي د ده د لارښووني لپاره ئې کتاب راولېږو. داسي کتاب چي د هغه په حقانيت هر سالم الفطرت انسان په ډېره آسانۍ پوهېدی شي، له دقيقو څېړنو او ژورو بحثونو ئې ډېر ژر پوهېدی شي چي دا د الله له لوري راغلی کتاب دئ، هري پوښتني ته ئې ځواب وايي او هر شك ئې ختموي. که تاسو په دې کتاب کې شك لرئ او ګمان مو دا وي چي دا به د الله له لوري نه وي، نو د يوې وړې سورې په څېر ئې کوم څه راوړئ که رښتيني ياست.

همدا راز قرآن عظيم الشأن د کافرانو د لجاجت او قساوت په اړه فرمايي چي د دوی زړونه تر تيږو هم کلك او سخت دي، دا ځکه چي له تيږو خو ځيني داسي هم شته چي کله ټوټې ټوټې او تجزيه شي اوبه ترې راوځي، هلته چي فرمايي:

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُم مِّنۢ بَعْدِ ذَٰلِكَ فَهِىَ كَٱلْحِجَارَةِ أَوْ أَشَدُّ قَسْوَةً ۚ وَإِنَّ مِنَ ٱلْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ ٱلْأَنْهَٰرُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ ٱلْمَآءُ ۚ وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ ٱللَّهِ ۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ٧٤

البقره:٧٤

بيا له دې وروسته ستاسو زړونه سخت شول، داسې لکه چې ډبرې وي او تر دې هم ډېر سخت او له ډبرو خو ځينې داسې دي چې ويالې ترې بهېږي او ځينې داسې چې ټوټې ټوټې شي نو اوبه ترې راوځي او ځينې ئې داسې چې د الله له وېرې راپرېوځي او الله له هغه څه چې کوئ ئې غافل نه دئ.

په دې مبارك آيت کې که له يوې خوا د سخت زړو بني اسرائيلو دا حالت انځور شوی چې د مړي د راژوندي کېدو له ستري پېښې وروسته هم د دې په ځای چې ايمان راوړي، برعکس ئې زړونه مزيد سخت شول، هومره لکه کلکه ډبره او تر دې هم زيات، خو له بلې خوا يو داسې حقيقت په کې توضيح شوی چې انسان فقط په شلمه پېړۍ کې او د قرآن له نزول څوارلس سوه کاله وروسته او له ډېرو علمي تحقيقاتو بعد پرې پوه شو او هغه دا چې د سختو تيږو په ترکيب کې د اوبو ماليکولونه شته، په دې حقيقت هلته پوه شو چې تيږې او منرالونه ئې تجزيه کړل او د ټولو په ترکيب کې ئې د اوبو ماليکولونه وموندل او دا همغه حقيقت دئ چې قرآن په دې الفاظو سره بيان کړی: او له ډبرو خو ځينې داسې دي چې ويالې ترې بهېږي او ځينې داسې چې ټوټې ټوټې شي نو اوبه ترې راوځي!! چې کله قرآن دا خبره کوله هيچا دا گمان هم نه شو کولی چې د کلکو ډبرو په ترکيب کې به د اوبو ماليکولونه وي!!

اما دا چې قرآن دلته وايي چې ځينې تيږې د الله له وېرې راپرېوځي، آيا په رښتيا تيږې احساس لري او که دلته کومه استعاره کارول شوې او مقصد ئې فقط دا دئ چې تيږې هم په خپل زړه کې نرمي اوبه لري او هم له خپل الله څخه وېرېږي خو د اهل کتابو علماوو نه په خپلو زړونو کې ترحم درلود او نه له الله تعالی وېره؟ بايد پوه شې دا تيږې چې تا ته بې احساسه او بې شعوره ښکاري او سخت زړي او بې رحمه انسانان ورسره تشبيه کوې، داسې نه ده، ته اشتباه کوې، دا تيره احساس لري، خپل رب پېژني او کله کله د الله له وېرې راپرېوځي، ستا د وجود غوښه، مغز، وينه او عصبي تارونه له هغې خاورې جوړ شوي چې يو وخت سخته تيره وه، ورو ورو په خاورو تبديل شوه، له دې خاورې ونې، بوټي، مېوې او دانې راوټوکېدې او همدا ستا په غوښه، مغز، ويني او عصبي رشتو بدلې شوې، که په دې تيږو کې دا کمال نه وی نو په ژونديو شيانو به د هغوی بدلون ممکن نه وو، له

هغې به ژوندي شيان نه راپيدا کېدل، تا ته به دا ونې او بوټي هم بې احساسه برېښي، دا حيوانات به هم بې شعوره ګڼې، خو دا هر يو په ډېرو برخو کې تر تا مخکې دي، د ونې د ستې پوستکی په لور وشکوه، وبه ګورې چې ډېر ژر په هغه زخمي ځای کې ښويه او سريښناکه مايع راپيدا کړي، زخم پټ کړي، له چينجيو او مکروبونو ئې خوندي کړي، څو ورځې وروسته به ګورې چې دا زخمي ځای تر نور پوستکي هم سخت شوی دئ، د ونې د يوه اړخ يوه څانګه پرې کړه، څو ورځې وروسته به وګورې چې د همدې ځای خوا ته، ترې لاندې يا بر، نوې څانګه راټوکېدلې، دا د دې لپاره چې ونه غواړي خپل تعادل بېرته برابر کړي، آبله خوا ئې درنه نه شي او په هغه لوري ئې کږه نه کړي. په کوټه کې د ګل بوټی کېږده، څو ورځې وروسته ئې وګوره چې د کړکۍ په لوري به مايل شوی وي او دا هڅه به کوي چې ځان نور او رڼا ته ورسوي، هر بوټی پوهېږي چې له زمکې کوم مواد جذب کړي او څنګه له دې خوندوره دانه يا مېوه جوړه کړي، په محفوظ پوستکي کې او داسي چې ته ئې هم له شکل او رنګ خوند اخلې او هم له بوی او ذائقې او که ته دا خپل ټول (شعور)، (عقل) او (علم) او خپل ټول پرمختللي وسائل دي په کار واچوې، د دې واړه بوټي او دغي ونې په څېر څه نه شې پيدا کولی. د شاتو موچۍ چې څه جوړوي ستا ټول لابراتوارونه ترې عاجز دي، ډېر حيوانات په خپلو ډېرو حواسو کې تر تا مخکې دي، ځنګلي حيوانات، پشۍ، سپی، غرڅه، مارغان په ليدو اورېدو او د بوی په احساسولو او پېژندلو کې تر تا ډېر ډېر وړاندي دي. ډېر حيوانات د باران، طوفان او زلزلې راتګ تر تا د مخه احساسوي، ته هسي مغرور شوی يې او دوی ته د حقارت په سترګه ګورې.

دا يوازې تيږې نه دي چې قرآن د هغوی په اړه دا وينا کوي، قرآن د کائناتو هر څه داسي معرفي کوي چې طوعاً او کرهاً خپل رب ته منقاد دي، په ټول انهماك سره خپل مأموريت او ورکړی شوې دنده ترسره کوي او هر يو ئې د خپل رب تسبيح وايي، خو مونږ د دوی د تسبيح په څرنګوالي نه پوهېږو.

نو د قرآن دا خبره حق ده چې ځيني تيږې د الله له وېرې راپرېوځي، دا تيږې، لوټي، بوټي، ستاسو لاسونه، پښې او پوستکی به د قيامت په ورځ ستاسو په ټولو کړو وړو او هر څه شهادت ورکوي او دا هغه حقيقت دئ چې ساينس ئې د

پوهېدو لومړي پړاو ته نږدې شوی، ډېر نور مزل باید ووهي چې مزید حقائق ورته څرګند شي.

همدا راز قرآن عظیم الشأن د جن او انس ډلې مخاطب کوي او فرمايي:

﴿يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ إِنِ ٱسۡتَطَعۡتُمۡ أَن تَنفُذُواْ مِنۡ أَقۡطَارِ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ فَٱنفُذُواْۚ لَا تَنفُذُونَ إِلَّا بِسُلۡطَٰنٖ ٣٣ فَبِأَيِّ ءَالَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبَانِ ٣٤ يُرۡسَلُ عَلَيۡكُمَا شُوَاظٞ مِّن نَّارٖ وَنُحَاسٞ فَلَا تَنتَصِرَانِ ٣٥﴾

**الرحمن:٣٣-٣٥**

اې د پېريانو او انسانانو ټوليه! كه كولی شئ چې د آسمانونو او زمكې له قطرونو تېر شئ (او بل لوري ته ئې ووځئ) نو ننوځئ، نفوذ نشئ كولی مګر په قوت او ځواك سره. نو د خپل رب له كوم كوم نعمت انكار كوئ؟! په تاسو باندې به د اور خالصې لمبې رالېږل كېږي او ويلې شوي شيان، چې يو د بل مرسته به نشئ كولی.

په دغه حقيقت چې قرآن څوارلس پېړۍ مخكې ورته اشاره كړې د ساينس نړۍ اوس او په دې وروستۍ پېړۍ كې پوه شوه چې د آسمانونو په لوري او فضاء ته د ختلو په دوران كې به انسان له داسې مشتعل او سوزنده سماوي اجرامو سره مخامخ كېږي چې د اور لمبو ته ورته وي. هماغه څه چې قرآن كريم څوارلس پېړۍ د مخه د (شواظ من نار) په نامه ياد كړي. همدا راز د زمكې زړه ته د نفوذ او ننوتو په صورت كې به انسان د زمكې له بهرنۍ او سوړ قشر وروسته ورو ورو هغې برخې ته رسېږي چې هلته هر څه د تودوخې د لوړې درجې له كبله ويلي او مذاب دي، چې قرآنكريم ورته (نحاس) ويلي.

قرآن د انسان د پيدايښت د بېلو بېلو مراحلو په اړه فرمايي:

﴿وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلۡإِنسَٰنَ مِن سُلَٰلَةٖ مِّن طِينٖ ١٢ ثُمَّ جَعَلۡنَٰهُ نُطۡفَةٗ فِي قَرَارٖ مَّكِينٖ ١٣ ثُمَّ خَلَقۡنَا ٱلنُّطۡفَةَ عَلَقَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡعَلَقَةَ مُضۡغَةٗ فَخَلَقۡنَا ٱلۡمُضۡغَةَ

عِظَٰمٗا فَكَسَوۡنَا ٱلۡعِظَٰمَ لَحۡمٗا ثُمَّ أَنشَأۡنَٰهُ خَلۡقًا ءَاخَرَۚ فَتَبَارَكَ ٱللَّهُ أَحۡسَنُ ٱلۡخَٰلِقِينَ ١٤ المؤمنون: ١٢-١٤

او يقيناً چي انسان مو د خټې له خلاصې (عصارې) څخه پيدا کړ، بيا مو يوه نطفه وګرځاوو په يوه مضبوط ځای کي، بيا مو دا نطفه علقه وګرځوله، بيا مو دا علقه د غوښې يوه ټوټه جوړه کړه، بيا مو د غوښې دا بوټۍ هډوکي وګرځول، بيا مو دا هډوکي په غوښې وپوښل، بيا مو په يوه بل جوړښت کي پيدا کړ، نو مبارك دئ دا تر ټولو غوره پيدا کوونکی الله. بيا تاسو له دې وروسته حتماً مرئ بيا تاسو حتماً د قيامت په ورځ راپاڅول کېږئ.

د دې مبارکو آيتونو لارښووني دا دي:

- دلته د انسان د پيدايښت اوو مرحلو ته اشاره شوې، په دې توګه: ١- انسان مو د خټې له خلاصې (عصارې) پيدا کړ، چي مراد ترې د انسان په مني کي جوړه شوې نطفه ده، ٢- بيا مو يوه نطفه وګرځاوو په يوه مضبوط ځای کي، چي مراد ئې د مور په رحم کي د ګډي نطفې استقرار دئ، ٣- بيا مو دا نطفه علقه وګرځوله، ٤- بيا مو دا علقه د غوښې يوه ټوټه جوړه کړه، ٥- بيا مو د غوښې دا بوټۍ هډوکي وګرځول، ٦- بيا مو دا هډوکي په غوښې وپوښل، ٧- بيا مو په يوه بل جوړښت کي پيدا کړ، يعني بشپړ ماشوم مو ترې جوړ کړ.

- دا پوښتنه راولاړېږي چي تر دې وړاندي د انسان د فلاح او بريا اوو اسبابو ته اشاره وشوه، دلته د انسان د پيدايښت اوو پړاوونو ته او ورپسې ويل شوي چي ستاسو له پاسه مو اوه لاري پيدا کړې، د دغو دريو خبرو او دغو اوو عواملو، مراحلو او آسماني لارو تر منځ څه تړاو شته؟ د دې پوښتني ځواب دا دئ چي هو؛ يقيناً د دوی تر منځ ژور تړاو شته، او هغه داسي: د انسان معنوي ارتقاء همغسي بېل بېل مدارج لري، له بېلو بېلو معنوي پړاوونو له تېرېدو وروسته کولی شي د فلاح او بريا لوړو لوړو ځوکو ته ورسېږي، همغسي لکه چي د ده پيدايښت او د يوه بشپړ انسان په توګه دنيا ته د ده راتګ پړاوونه لري، او همغسي لکه چي زموږ له پاسه لوړ آسمان پوړ پوړ دئ.

- الله تعالی د انسان نطفه د ختې له خلاصې جوړوي، يعني د ده په نطفه کې د اوبو په شمول د خاورې ټول هغه مواد شته چې خاوره ترې جوړه شوې، له همدغې لمدې خاورې (ختې) دانه او مېوه جوړه کړي، وني او بوټي له لمدې ختې مواد جذبوي او مېوه او دانه ترې جوړوي، دغه دانه او مېوه د انسان (نارينه او ښځې) په بدن کې په مني واوړوي، د دغې مني له يوې وړې ذرې (نطفې) څخه د ده پېدايښت پيل کړي. علم نن همدا خبره کوي چې د انسان د بدن په ترکيب کې د خاورې ټول مواد کارول شوي. او همدا خبره کوي چې د انسان پيدايښت له يوې وړې نطفې پيل شي.
- د نارينه او ښځې له مني څخه يوه يوه نطفه غوره شي، تر ټولو ښه او پياوړې ئې، دوی سره يو ځای شي، له همدې ځايه د انسان جوړښت پيل شي، بيا ئې الله تعالی په يوه مضبوط، خوندي او مناسب ځای کې ځای په ځای کړي. دلته هم د قرآن يو ستر علمي اعجاز زموږ په وړاندې ځلېږي او هغه دا چې د نارينه او ښځې د دوو نطفو (سپرم او اووم) يو ځای کېدا د مور د بدن په يوې برخې کې او هلته چې اووم (هګۍ) سپرم ته په انتظار پرته وي، تر سره کېږي او بيا له يو ځای کېدا وروسته رحم ته درومي او هلته تر هغه پاتې کېږي چې د يوه بشپړ ماشوم په څېر دنيا ته راشي. د قرآن دغه وينا چې لومړی ګډه نطفه جوړه شي او بيا په مضبوط مستقر کې ځای په ځای شي هغه ستر حقيقت انځوروي چې انسان په شلمې پېړۍ کې پرې پوه شو، تر دې وړاندې عاميانه انګېرنه دا وه چې د نارينه او ښځې مني په رحم کې يو ځای کېږي او هملته ماشوم ترې جوړېږي. خو قرآن لا د مخه ويلي وو چې په رحم کې استقرار د نطفې له جوړېدا وروسته ترسره کېږي.
- دا نطفه وده وکړي، لومړی د علقه بڼه غوره کړي، د يوه ځوړند توکي په څېر شي، بيا د ژوول شوې غوښې بڼه غوره کړي، بيا ئې د هډوکو جوړېدا پيل شي، بيا دا هډوکي د غوښې په بوټيو پټ کړی شي، قرآن هغه مخکنۍ غوښه د مضغه په نامه ياده کړې او دا ئې د لحم په نامه او دا ښيي چې د دواړو ترکيب او حالت بېل بېل دئ او په خپلو کې توپير لري.
- له دې وروسته هغه ته د يوه بشپړ ماشوم صورت او شکل ورکړی شي.

څه چي په دې مبارك آيت کي ويل شوي علم نن د هغه حرف حرف تأييدوي او د انسان د پيدايښت د بېلو بېلو مراحلو حالت همغسي ګڼي چي په دغو مبارکو آيتونو کي انځور شوي.

همدا راز ټول هغه څه چي قرآن تحريم کړي او د انسان لپاره ئې مضر ګڼلي، علم ورو ورو هغه پېژندلي او په اضرارو ئې پوه شوي. د مثال په توګه قرآن څوارلس پېړۍ مخکي شراب تحريم کړل او د انسان لپاره ئې تاواني او مضر وګڼلو، هغه مهال چي قرآن دا پرېکړه خلکو ته اوروله کافرانو او د اسلام مخالفينو ته د دې خبري منل ګران وو چي واقعاً شراب انسان ته تاوان رسوي، خو نن علم په دې پوهېږي چي واقعاً شراب د انسان صحت ته مضر دئ او له هغه اجتناب په کار دئ.

په قرآن کي دې ته ورته آيتونه ډېر زيات دي چي ثابتوي دا کتاب د داسي عليم او پوه ذات له لوري لېږل شوی چي د عالم په ټولو اسرارو پوه دئ. ما د (ساينس او د قرآن علمي اعجاز) په کتاب کي د قرآن نږدې دوه سوه هغه آيتونه راغونډ کړي چي هر يو ئې ستر اعجاز دئ، او حقائق ئې څرګند کړي چي علم په ډېر زحمت او تکليف سره او له ډېر اوږد مزل وروسته پرې پوه شوی. پوښتنه دا ده چي د دې کتاب حامل څنګه په هغو اسرارو پوه شو چي نور انسانان څوارلس سوه کاله وروسته پرې پوهېږي او هغه هم د ډېرو دقيقو، پېچلو، پرمخ تللو او مډرنو وسائلو په مرسته، په هغه صحرائي ټولني کي چي د باسوادو او په ليك لوست پوهو کسانو شمېر ئې لسو ته نه رسېدو!! پيغمبر عليه السلام د عالم د مختلفو برخو په اړه دومره دقيق معلومات له کومي منبع ترلاسه کړل، هغه معلومات چي د نړۍ ستر ستر علماء او ساينس پوهان نن پرې پوهېږي او ايمان راوړي؟ دا ولې د غرب معروف شخصيتونه او نوميالي علماء له دې کبله په دې کتاب ايمان راوړي چي ګوري د ساينس دقيقي څېړني او علمي لاسته راوړني همغه خبره کوي چي په قرآن کي څوارلس پېړۍ مخکي ويل شوې، دې نتيجې ته رسېږي چي د اسلام په حقانيت ايمان راوړي او وايي: انسان باور نشي کولی چي د قرآن دا دقيقي او علمي ويناوي دي د يوه داسي انسان شخصي نظريات وي چي په څوارلس سوه کاله مخکي محيط او اجتماع کي ئې ژوند کولو. قرآن د خپلو علمي او دقيقو ويناوو له پلوه داسي ستره

معجزه ده چي د يوه عاقل او منصف انسان د اقناع لپاره كفايت كوي، لكه چي الله تعالى د دې الهي كتاب په اړه فرمايي:

أَوَ لَمْ يَكْفِهِمْ أَنَّآ أَنزَلْنَا عَلَيْكَ ٱلْكِتَـٰبَ يُتْلَىٰ عَلَيْهِمْ ۚ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَرَحْمَةً وَذِكْرَىٰ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ ۝ العنكبوت:٥١

آيا دا ورته كفايت نه كوي چي موږ پر تا هغه كتاب نازل كړی چي پر دوی لوستل كېږي، يقيناً چي په دې كي د ايمان راوړونكو وګړو لپاره حتماً رحمت او ذكر دئ.

چا چي له حق سره د مخالفت پرېكړه كړې وي، نه په دلائلو قانع كېږي او نه په معجزو، دا دئ ګورئ چي د قريشو په وړاندي د رسول الله صلى الله عليه و سلم په څېر ستر شخصيت ولاړ دئ، د الله تعالى لوري ته بلنه وركوي، د قرآن په څېر له معجزو ډك كتاب ورته وړاندي شوی، خو هغوی نه يوازي له ايمان راوړو ډډه كوي بلكي د داسي خارق العاده معجزو غوښتنه كوي چي شيطان ئې پرې قانع شي، وايي: ولي د ده د رب له لوري ځرګندي نښي نه دي پرې نازلي شوې؟ الله تعالى د دوی په ځواب كي رسول الله صلى الله عليه و سلم ته لارښوونه كوي چي ورته ووايي: يقيناً چي نښي خو له الله سره دي، او زه يوازي يو ځرګند نذير يم، له ما سره نه معجزې شته او نه ئې د ښودلو واك، زه فقط يو نذير يم چي د كفر، شرك، ظلم او فساد له بدو پايلو تاسو ته خبرداری دركوم. د دوی د غلطي غوښتني په ځواب كي فرمايي: آيا د دوی د قناعت لپاره دا له اعجازونو ډك كتاب چي ته ئې پرې لولې كفايت نه كوي؟!! يقيناً چي په دې كي د ايمان راوړونكو وګړو لپاره حتماً (رحمت) او (ذكر) دئ، هغه چي د ايمان راوړو استعداد او وړتيا ئې نه ده ځپل شوې هغوی به هرومرو دا كتاب د الله تعالى يوه لويه پېرزوينه ګڼي او له هغه به پند اخلي.

يعني په چا كي چي د ايمان راړولو استعداد وي هغه ته دا كتاب په خپله د معجزې او دليل په توګه كافي دئ، تر دې لويه او ستره معجزه نشته. كه څوك لږ له شفاف ذهن سره او د حق موندلو له تلوسې او تندي سره قرآن ته رجوع وكړي نو يقيناً چي د قرآن هره وينا به د دې عالم او د عالم د هر څه په اړه هومره علمي او دقيقه وومي چي ورته ثابتوي دا كتاب هغه چا نازل كړی چي د دې ټول عالم او د

عالم د هر څه په اړه جامع علم لري، دا کتاب د هغه چا له لوري راغلی چې علم ئې په زمان او مکان پوري محدود نه دئ، هیڅ شی او حقیقت ئې ترې پټ نه دئ، د ده د علم په وړاندي داسي حجاب نشته چې د یوه شي په حقیقت د پوهېدو مانع شي، موږ په دې کتاب کې ګورو چې د هر څه په باب ئې هره وینا او قضاوت دقیق او صحیح دئ، دا دقیق او سل په سلو کې صحیح او علمي قضاوتونه او پرېکړې موږ ته ثابتوي چې د دې کتاب لېږونکی د هر څه په اړه جامع او کامل علم لري، له دې ناحیې قرآن معجزه ده او د پیغمبر علیه السلام په حقانیت شهادت ورکوي.

# پر کتاب د ایمان غوښتني

پر الهي کتاب د ایمان غوښتني په مختصره توګه دا دي:

## د کتاب په باب شك او شبهه نه كول

پر الهي کتاب د ایمان لومړۍ تقاضا دا ده چي په دې کتاب د ایمان مدعي به د هغه په هري وینا د زړه له تله پوخ باور لري او د هیڅ وینا په اړه به ئې شك او بدګماني نه لري، په هیڅ حالت کي به د کتاب د پرېکړو او فیصلو په اړه، د احکامو او اوامرو په باب، د قضاوتونو او څېړنو په ارتباط، له مؤمنانو سره د شوو وعدو په اړه، کافرانو ته د ګواښونو او وعیدونو په اړه شك نه کوي، په دې به ئې بشپړ باور وي چي کافرانو ته متوجه ګواښونه به هرومرو ترسره کېږي، له مسلمانانو سره شوې وعدې به حتماً سرته رسي، د عالم او د انسان په اړه ئې چي کوم قضاوتونه کړي هغه به تحقق مومي، وړاندویني به ئې ترسره کېږي، په دې به بشپړ او کامل باور لري چي د انسان د دنیایي او اخروي سعادت یوازینۍ لار همغه ده چي دې کتاب په ګوته کړې او شقاوت او بدمرغي ئې په همغه څه کي چي دې کتاب ښودلي، په دې ټولو خبرو به کامل او راسخ ایمان لري او د کتاب د قضاوتونو، پرېکړو، وعدو او وعیدونو په اړه به په هیڅ صورت کي شك نه کوي، که ته ډېر ضعیف یې او دښمن درته زیات قوي او ځواکمن برېښي، مورچل ئې قوي او مستحکمه او په نظامي لحاظ توازن د هغه په ګټه، خو ته به په دې باور وې چي نه ستا ضعف او کمزوري د الله تعالی د وعدو تحقق ځنډوي او نه د دښمن ځواکمن ظاهر د الله تعالی د وعید مخه نیولی شي، که څه هم ته ضعیف او ناتوانه یې، خو الله تعالی په خپل کتاب کي له تا سره وعده کړې چي آخري فتح به ستا وي، د دې وعدې د حتمي تحقق په اړه به هیڅکله شك نه کوې، دا چي کتاب وایي د ظالمانو انجام

وخیم دئ، الله به ئې مؤاخذه کوي، خو په ظاهر کې داسې برېښي چې د دوی اقتدار به دوام کوي، دا مجلل قصرونه، مضبوطي کلاگاني، مستحکم سنگرونه، مجهز فوځونه او پراخ امکانات به د دې مخه نیسي چې اقتدار ئې پای ته ورسېږي او واکمني ئې نسکوره شي، که څه هم ستا او د دښمن ظاهري وضعیت داسې برېښي او تا ته خپله بریا او د دښمن ماته گرانه او حتی مستحیل برېښي، خو که ته پر کتاب ایمان لرې او هغه یقیناً د الله تعالی له لوري گڼې، نو نه به د خپلې وروستۍ بریا په باب شك کوې او نه د دښمن د حتمي ماتې او زوال په اړه. هیڅ حالت باید ستا په زړه کې د الهي کتاب د پرېکړو او قضاوتونو په اړه شك راولاړ نه کړی شي، پر کتاب د ایمان لومړۍ غوښتنه همدا ده چې انسان به د هغه د قضاوتونو، احکامو، وعدو او وعیدونو په اړه شك نه کوي، لکه چې قرآن فرمایي:

ذَٰلِكَ ٱلۡكِتَٰبُ لَا رَيۡبَۛ فِيهِۛ هُدٗى لِّلۡمُتَّقِينَ ؟ البقره:۲

دا هغه کتاب دئ چې شك په کې نشته، متقیانو ته لارښود

یعني هیڅوك نشي کولی په دې سپېڅلي کتاب کې د شك ځای او مورد په گوته کړي، دا بېله خبره ده چې ناپوه او جاهل کسان به د هغه په نسبت شك کوي، خو هیڅ څوك په دې کتاب کې داسې څه نشي موندلی چې هغه د شك وړ وي او یو عاقل او باانصافه انسان د هغه په اړه شك وکړي، (لاریب فیه) په هغه کې هیڅ شك نشته.

همدا راز په سوره السجده کې فرمایي چې:

تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ لَا رَيۡبَ فِيهِ مِن رَّبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ؟ السجده:۲

په دې کې کوم شك نشته چې د دې کتاب لېږنه د رب العالمین له لوري ده،

یعني دا کتاب هغه الله رالېږلی چې د دې ټول عالم رب، پیداکوونکی، ساتونکی او پالونکی دئ، هغه ذات چې د ټول عالم په اړه وسیع علم لري، دا ځکه چې ده پیدا کړي، د هر څه پالنه او روزنه کوي، همغه الله دا کتاب رالېږلی، نو ځکه به په هغه کې د هیڅ نوع شك او شبهې مجال او احتمال نه وي.

## تدبر

په الهي کتاب د ایمان بله تقاضا دا ده چې په هغه کې به انسان تدبر کوي او په مفاهیمو به ئې ځان پوهوي، نه د کتاب یوازې لوستل او یوازې ذکر او تلاوت کافي دئ او نه دا چې ته هغه یو مقدس او سپېڅلی کتاب وګڼې، د درناوي او احترام لپاره ئې په دسمالونو کې تاو کړې او بر ئې په تاخچه کې کېږدې او د دې خبرې کلك مدعي وې چې په هغه ایمان لرې !! د کتاب تعلیم، په هغه کې تدبر او تفکر، پر کتاب باندې د ایمان غوښتنه ده، لکه چې قرآن فرمایی:

... يَسْـَٔلُونَكَ عَنِ ٱلْخَمْرِ وَٱلْمَيْسِرِ ۖ قُلْ فِيهِمَآ إِثْمٌ كَبِيرٌ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَإِثْمُهُمَآ أَكْبَرُ مِن نَّفْعِهِمَا ۗ وَيَسْـَٔلُونَكَ مَاذَا يُنفِقُونَ قُلِ ٱلْعَفْوَ ۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمُ ٱلْءَايَٰتِ لَعَلَّكُمْ تَتَفَكَّرُونَ ٢١٩ البقره: ٢١٩

الله همداسې آیتونه درته بیانوي تر څو تفکر وکړئ.

یعني دا آیتونه ئې رالېږلي تر څو په هغه کې غور او تفکر وکړئ.

انبیاوو خپلو امتونو ته ویلي:

مَا كَانَ لِبَشَرٍ أَن يُؤْتِيَهُ ٱللَّهُ ٱلْكِتَٰبَ وَٱلْحُكْمَ وَٱلنُّبُوَّةَ ثُمَّ يَقُولَ لِلنَّاسِ كُونُوا۟ عِبَادًا لِّى مِن دُونِ ٱللَّهِ وَلَٰكِن كُونُوا۟ رَبَّٰنِيِّـۧنَ بِمَا كُنتُمْ تُعَلِّمُونَ ٱلْكِتَٰبَ وَبِمَا كُنتُمْ تَدْرُسُونَ ٧٩ آل عمران:٧٩

هیڅ انسان ته نه ښایي چې الله تعالی ورته کتاب، حکم او نبوت ورکړي او بیا هغه (له دې الهي پېرزویني وروسته) خلکو ته ووایي: له الله تعالی علاوه زما بندګان شئ! بلکې (د دې برعکس هغه ته دا ښایي چې) ووایي: د دې لپاره باید خدای پالونکي شئ چې تاسو خو نورو ته دا کتاب ورزده کوئ او په خپله ئې لولئ.

یعني هر پیغمبر خپل امت ته ویلي چې خدای پالونکي او رباني شئ، د الله تعالی بندګي وکړئ او د هغه ربوبیت ته غاړه کېږدئ، په دې سبب چې تاسې د کتاب

ښودنه او زده کړه کوئ.

ګورئ چې په دې آیت کې د کتاب تعلیم او تدریس یادونه شوې او هغه د یوه مؤمن قوم ځانګړتیا ګڼل شوې، که موږ پر کتاب د ایمان دعوی لرو نو باید په کتاب ځان پوه کړو او نورو ته ئې ورسوو، د هغه تعلیم او تدریس به کوو، دغه مطلب ته په بل ځای کې داسې اشاره شوې.

وَلَمَّا جَآءَهُمْ رَسُولٌ مِّنْ عِندِ ٱللَّهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ نَبَذَ فَرِيقٌ مِّنَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ كِتَٰبَ ٱللَّهِ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ كَأَنَّهُمْ لَا يَعْلَمُونَ ١٠١ البقره:١٥١

همداسې لکه چې په تاسو کې مو ستاسو له منځه داسې پیغمبر درولېږو چې زما آیتونه دربانديې لولي، ستاسو روزنه کوي، علم او حکمت درښيي او هغه څه درښيي چې نه وربانديې پوهېدئ.

دغه مطلب د قرآن په ګڼ شمېر آیتونو کې راغلی چې د پیغمبرانو علیهم السلام دعوت په څو اساسي خبرو کې خلاصه شوی: د کتاب تلاوت، د خلکو روزنه او تربیه او خلکو ته کتاب او حکمت ښودل.

پر کتاب باندې د ایمان یوه مهمه تقاضا دا ده چې انسان به نه یوازې دا کتاب حق ګڼي او باور به لري چې هره وینا ئې رښتینې ده، بلکې د کتاب په محتوی او د وینا په مقصد او مفهوم به ئې ځان پوهوي، دا کافي نه ده چې د ایمان دعوی وکړي او هیله من وي چې جنت ته به ورومي، دوزخ ته به نه ځي مګر د څو ورځو لپاره، په حقه دئ او الله ئې مل دئ، د ده په اړه به ټولې هغه وعدې ترسره کېږي چې الله تعالی له خپلو مؤمنو بندګانو سره کړې دي، داسې هیلې او ګمانونه کفایت نه کوي، قرآن عظیم الشأن په همدې ارتباط د اهل کتابو د امیانو په اړه فرمایي:

وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ ٱلْكِتَٰبَ إِلَّآ أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ٧٨
البقره:٧٨

او له دوی ځیني امي (نالوستي) دي، له څه هیلو پرته نور په کتاب نه پوهېږي او دوی نه دي مګر ګمان کوونکي.

يعني علماء او اهل كتاب ئې داسې دي چې د خپل لاس ليکنې او له خپل غرض او مرض راخوتېدلې فتواګانې الله تعالى او د هغه دين ته منسوبوي، هدف ئې دا وي چې په دې سره څه متاع، يو ټوك ډوډۍ او كومه چپنه او پګړۍ ترلاسه کړي، خو عوام ئې داسې چې په كتاب او د هغه په لارښوونو خبر نه دي، پر كتاب د ايمان دعوى فقط دومره کړي چې په دوى کې ئې څه دروغجنې هيلې او اميدونه راولاړ کړي او څه ګمانونه ورسره راپيدا شوي، هيلې ئې دا دي چې جنت ته به درومي او ګمان ئې دا چې د کتاب او الهي لارښوونو په اړه دوى كوم تصور لري او خپلو منحرفو مذهبي مشرانو ورته څه ويلي، همدا حقيقت دئ او د الهي حقيقي دين اصلي غوښتنه، دا دواړه ډلې (ټګمار او دين پلورونکي علماء او له دين بې خبره عوام) د تأسف وړ دي خو اصلي مجرمان او د ډېر تأسف وړ هغه علماء دي چې دين تحريفوي او د دنيا په متاع ئې پلوري!!

ګورئ چې د اهل كتابو بې سواده طبقه له هغه وروسته چې بې لارې شول او الهي کتاب ته ئې شا کړه نو له دوى سره لدې پرته بل څه پاته نه شو چې څه هيلې او تمنيات ورسره وي او څه هم ګمانونه او تصورات، له كتاب د دوى ټول علم همدومره وو چې څه هيلې ئې په زړه کې راپيدا شوې او څه ګمانونه او تصورات ئې په دماغ کې، خو نه هيلې کافي دي او نه ګمانونه، دلته داسې علم په کار دئ چې په يقين او ايمان بدل شي، د کتاب د محتوى په نسبت علم پر هغه د ايمان لپاره مقدمه ده، دا علم دئ چې په ايمان منتج کېږي.

تاسو پوهېږئ چې زموږ پر پيغمبر عليه السلام لومړۍ وحي او لومړۍ الهي لارښوونه څه وه؟ قرائت، علم او قلم.

ٱقۡرَأۡ بِٱسۡمِ رَبِّكَ ٱلَّذِي خَلَقَ ١ خَلَقَ ٱلۡإِنسَٰنَ مِنۡ عَلَقٍ ٢ ٱقۡرَأۡ وَرَبُّكَ ٱلۡأَكۡرَمُ ٣ ٱلَّذِي عَلَّمَ بِٱلۡقَلَمِ ٤ عَلَّمَ ٱلۡإِنسَٰنَ مَا لَمۡ يَعۡلَمۡ ٥ العلق: ١-٥

ولوله په نوم د خپل رب، هغه چې پيدا ئې کړ. انسان ئې له څوړندو پيدا کړ، ولوله چې رب دې ډېر كريم دئ. هغه چې په قلم ئې پوهه ورکړه. انسان ته ئې ورزده کړل څه چې نه پرې پوهېدو.

په دې مبارکو آيتونو کې څو مهمې خبرې زمونږ پام ځان ته جلبوي:

الف: د الله تعالی له لوري وحي د اقرأ (ولوله) په امر پيل شوې او دا ښيي چې د اسلام له نظره د (لوست) مقام او منزلت څومره لوړ دئ او څومره اهميت لري، دا د الله تعالی لومړی امر دئ، په دغه امر سره ئې د وحي لړل پيل کړي.

ب: لوستل د خپل رب په نامه او د هغه په مرسته پيل کړه، هغه رب چې هر څه ئې پيدا کړي، ته او دا هر څه يوازې يو رب لرئ، چې هم ستا رب دئ او هم د نورو ټولو مخلوقاتو رب.

ج: په (قرائت)، (علم) او (قلم) سره هم انسان ته پر نورو مخلوقاتو فضيلت ورکړی شوی او هم په خپله د انسانانو تر منځ يوه ته پر بل فضيلت.

د: (قلم) د زده کړې او پوهې ډېره اغېزمنه وسيله ده، په دې سره انسان د دې مجال ترلاسه کوي چې په ډېرو هغو حقائقو پوه شي چې له بلې لارې پرې پوهېدل ورته ممکن نه وو.

هـ: لکه څنگه چې دلته د (علم بالقلم) الفاظ په دې معنی دي چې انسان ته له قلم د استفادې استعداد ورکړی شوی، الله تعالی د هغه په فطرت کې دا ملَکه اېښې چې قلم جوړ کړي، خپل ما في الضمير وليکي او نورو ته ئې انتقال کړي او له دې د زده کړې او تعليم او تعلم وسيله جوړه کړي، همدا راز په نورو آيتونو کې دې ته ورته راغلي الفاظ لکه (علمه البيان) او (علم آدم الاسماء کلها) هم هغو استعدادونو ته اشاره کوي چې انسان ته ورکړی شوي، انسان ته د (بيان) مَلَکه ورکړی شوې، کولی شي خپل (مافالضمير) اظهار کړي او له کلماتو او الفاظو په استفادې سره خپل قصد، هدف، نظر او پيغام تشريح او توضيح کړي، هغه ته د هر څه د پېژندو او په هر څه د يوه مناسب نوم اېښودو استعداد ورکړی شوی، هغه کولی شي خپله پوهه د نومونو په قالب کې ترتيب، تنظيم او حفظ کړي او نورو ته ئې انتقال کړي. دا د انسان يوه ځانگړتيا ده، دا صفت په نورو مخلوقاتو کې نشته، په دې سره الله تعالی انسان ته پر ټولو مخلوقاتو فضيلت او شرف ورکړی.

گورئ چې لومړۍ وحي د (ولوله) په امر سره شروع شوې او له علم او قلم بحث کوي، له دې په څرگنده توگه معلومېږي چې علم د ايمان پيل او مقدمه ده.

همدا راز فرمايي:

أَفَلَا يَتَدَبَّرُونَ ٱلْقُرْءَانَۚ وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا ٨٢

النساء:٨٢

نو آيا په قرآن کې تدبر نه کوي، که هغه د ماسوی الله له لوري وی نو حتماً به ئې ډېر اختلاف په کې موندلی وو.

قرآن په درويشتو کلونو کې بشپړ شو، په دې اوږدې مودې کې پر پيغمبر عليه السلام رنګارنګ حالات راغلل، هر حالت په انسان کې خاص مشاعر او عواطف راولاړوي، افکار او نظريات ئې تر خپل اغېز لاندې نيسي، د ضعف د حالت احساسات او خبرې ئې بېلې وې او د قوت د حالت جذبات او افکار ئې بېل، د غضب په حالت کې ئې وينا او پرېکړې له قهر او غصې ډکې، خو چې قهر ئې سوړ شي او غصه ئې کښېني نو په خپلو خبرو پښېمانه وي او د ترميم هڅه ئې کوي، خو پيغمبر عليه السلام په داسې حال کې چې په سر کې يوازې وو، د ګوتو په شمېر کسانو ورباندې ايمان راوړ، خپل قوم ورسره مخالفت وکړ، د مخالفينو سرخېل ئې يو تره وو، خپلو زامنو ته ئې وويل چې د محمد (عليه السلام) لوڼې طلاقې کړئ، هغوی دا کار وکړ، ياران ئې تر تعذيبونو لاندې، هجرت ته مجبور شو، سختې ورځې ورباندې راغلې، دا حالت ورو ورو بدل شو، پلويان ئې زيات شول، د برياوو او فتوحاتو مرحله ئې پيل شوه، دښمن ته ئې په وار وار ماته ورکړه او تر رحلت مخکې نږدې ټول حجاز د ده تر واکمنۍ لاندې راغی، دغه قرآن په ټولې دغې مودې کې، له خپلو ټولو لوړو ژورو، ستونزو، کړاوونو، ماتو او برياوو سره، ورو ورو بشپړ شو، خو نه ئې په الفاظو او کلماتو کې اختلاف رامنځ ته شو او نه ئې په مطالبو کې د حقيقت خلاف يوه وينا او يو لفظ تر سترګو شو، دا خبره د انسان تر وس ډېره ډېره اوچته او ورته محال او ناممکنه ده چې د درويشتو کلونو ټولې خبرې ئې رښتيا ثابتې شي او يوه ئې هم د حقيقت خلاف او د ده د خپلو وينا ګانو خلاف ترسترګو نه شي، که دا قرآن له الله پرته د بل چا له لوري وی نو هرو مرو به ئې په متن کې

هم او په محتوی او مفهوم کې هم ډېر اختلافات موندل شوي وو، خو دا دئ ځوارلس پېړۍ پرې تېرې شوې او هیڅوك ونه توانېدو په قرآن کې د تعارض او اختلاف یوه بېلگه په گوته کړي!! آیا دا کافي نه ده چې ومنئ پیغمبر علیه السلام د الله استازی او قرآن د الله کتاب دئ؟

که څه هم د آیت ادعاء عامه ده خو دلته خطاب منافقینو ته متوجه دئ او دوی ته ویل شوي چې ستاسو د منافقت اصلي وجه دا ده چې نه پر پیغمبر د الله د استازي په حیث ایمان لرئ او نه پر قرآن د الله د کتاب په توگه.

چې یو کتاب په درویشتو کلونو کې بشپړ شي، د ټول کتاب بېل بېل اجزاء او د هر جزء بېلې بېلې برخې د دې اوږدې مودې په مختلفو مراحلو کې نازلې شي او یوه د بلې څنگ ته ترتیب او تنظیم شي او په دې توگه ورو ورو د مکمل کتاب بڼه غوره کړي، خو نه په ادبي لحاظ د هر جزء په بېلو بېلو برخو کې څه توپیر راشي او نه ئې په متن او محتوی کې څه اختلاف او بدلون راشي، له سره تر پایه پوري، د دې کتاب په هیڅ برخې کې، هیڅوك کوم اختلاف، توپیر او تناقض ونشي موندلی، دا په خپله دا حقیقت په ډاگه کوي چې د دې کتاب لېږونکی هغه علیم او خبیر ذات دئ چې د زماني په بدلېدو رابدلېدو سره نه په ده کې تبدیلي راځي او نه ئې په علم کې.

موږ په انساني ټولني کې ستر ستر لیکوالان گورو چې د ځوانۍ او زوړوالي لیکني ئې، د سختو شپو ورځو او د آرامو حالاتو لیکني ئې، د تېرکال او راتلونکي کال لیکني ئې، له یوه بله هومره توپیر لري چې مقایسه کېدی نشي، په مسلسل ډول په خپلو لیکنو، څېړنو او نظریاتو کې تجدید نظر کوي، خپل آراء تصحیح کوي، په خپلو اشتباهاتو اعتراف کوي، چې د هر عالم او مفکر لیکني او کتابونه وگورئ خامخا به د هغه د نن او څو کاله د مخه نظریاتو کې ژور توپیر او اختلاف ومومئ، خو د الله تعالی په کتاب کې څوك اختلاف او توپیر نشي په گوته کولی.

وَلَوْ كَانَ مِنْ عِندِ غَيْرِ ٱللَّهِ لَوَجَدُواْ فِيهِ ٱخْتِلَٰفًا كَثِيرًا: که چېري (دا قرآن ) له الله تعالی پرته د بل چا له خوا وی نو حتماً به ئې په هغه کې ډېر اختلاف موندلی وو.

د ص په سورې کې دا مطلب په دې الفاظو راغلی:

﴿كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ٢٩﴾
ص:۲۹

دا هغه مبارك كتاب دئ چي ستا لوري ته مو نازل كړ تر څو د هغه په آيتونو كي تدبر وكړي او د عقل خاوندان تري پند واخلي.

گورئ چي دا كتاب د عقلمنو لپاره راغلی، تر څو په هغه كي تدبر وكړي او پند تري واخلي، دا كتاب د دې لپاره نه دئ نازل شوی چي ته ئې په جامو كي ونغاړې، په تاخچه كي ئې كېږدې اوكله كله ئې د دې لپاره راكوز كړې چي په هغه باندي قسم ياد كړې او يا د رخصتولو په وخت كي د هغه له لاندي خپل زوی او ورور تېر كړې او ورته ووايې دا قرآن دي حافظ او ناصر شه، دا قرآن دي وساته، برعكس دا كتاب د دې لپاره راغلی چي په هغه كي تدبر و كړې او د عقل خاوندان له هغه پند و اخلي، د تفكر، تدبر او پند اخيستلو لپاره راغلی.

## د حكميت او قضاوت لپاره كتاب ته رجوع

په دې كتاب د ايمان بله مهمه غوښتنه او تقاضا دا ده چي د حكميت او پرېكړي لپاره به دې كتاب ته رجوع كېږي، شخړي به په هغه حل و فصل كېږي، نزاع او اختلاف به هغه ته راجع كېږي، د كتاب فيصله به وروستۍ فيصله گڼل كېږي، دا كتاب به د اختلافاتو د حل و فصل يوازينۍ او ورستنۍ مرجع گڼې، كه دا اختلاف فكري وي، كه اعتقادي وي، كه حقوقي وي او كه سياسي او اجتماعي، د فرد او فرد ترمنځ وي، كه د فرد او اجتماع ترمنځ او كه د دولت او ولس تر منځ وي. دا لارښود كتاب د دې لپاره لېږل شوی چي د خلكو ټول منازعات او اختلافات هغه ته راجع او د هغه په رڼا كي حل و فصل شي، دا كتاب د اختلافاتو د ختمولو او د ژوند په ټولو برخو او قضاياوو كي د خلكو د يووالي او وحدت ضامن دئ، خو متأسفانه دا د وحدت كتاب، دا د اختلافاتو د رفع كولو او د نزاع او د لانجو د حل و فصل وروستۍ مرجع، نن ناپوهو او غرضي خلكو په خپله د اختلاف وسيله گرځولی، څوك چي د وحدت ضامن او د اختلافاتو او لانجو د حل و فصل ضامن كتاب د اختلاف وسيله جوړوي له دې كتاب سره ستره جفا كوي، په داسي حال كي چي الله تعالی

فرمايي: په څه کې چې تاسو اختلاف وکړ بايد دې کتاب ته ئې راجع کړئ، الله او د هغه رسول ته ئې راجع کړئ، تر څو ستاسې اختلاف ختم کړي او وروستۍ فيصله درکړي، تاسي د جهل او ناپوهۍ له کبله په خپلو منځونو کې اختلاف کوئ، الله جل جلاله دا کتاب رالېږلی تر څو تاسي ته حقائق څرګند او ستاسو اختلافات رفع کړي، ولې همدغه د اختلافاتو د حل و فصل وروستۍ مرجع ځينو د اختلاف وسيله ګرځولی.

همدا راز قرآن فرمايي:

إِنَّآ أَنزَلۡنَآ إِلَيۡكَ ٱلۡكِتَٰبَ بِٱلۡحَقِّ لِتَحۡكُمَ بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِمَآ أَرَىٰكَ ٱللَّهُۚ وَلَا تَكُن لِّلۡخَآئِنِينَ خَصِيمٗا ١٠٥ النساء: ١٠٥

بې شکه چې تا ته مو دا په حقيقت ولاړ کتاب رانازل کړی، تر څو د خلکو ترمنځ د هغه څه مطابق حکم وکړې چې الله درښودلی او د خائنانو لپاره شخړه کوونکی مه شه.

د دې آيتونو لپاره چې کوم شأن نزول بيان شوی هغه د آيت په معنی ښه پوهېدو کې ډېره مرسته کوي: د يوه صحابي له کوره غلا وشوه، غل د مسلمانانو د يوې قبيلې غړی وو، د غلا مال ئې د خپل کور په ځای د يوه يهودي ملګري کور ته ورساوو او هغه ته ئې د خپل مال په نامه د ساتلو لپاره ورکړ، سبا د مال خاوند په همدغه کس د غلا شك وکړ، قضيه تر پيغمبر عليه السلام ورسېده، له پوښتنو ګروېږنو وروسته معلومه شوه چې غلا شوی مال د يهودي په کور کې دئ، هغه وويل چې دا خو همغه غله ده ته په دغه شپه امانت پرېښود، غله انکار وکړ، خپلوانو، ملګرو او قبيلې ئې له ده دفاع پيل کړه، پيغمبر عليه السلام ته راتلل او د ده په برائت به ئې تأکيد کاوو، مال د يهودي له کوره وتلی وو، غله انکار کاوو او ډېرو مسلمانانو له ده دفاع کوله او هغه ئې بریٔ ګاڼو، ځينو له دې کبله له ده دفاع کوله چې خپله قبيله له بدنامۍ وژغوري، ځينو له دې کبله دی بریٔ ګڼلو چې دی مسلمان دئ او هغه يهودي، خو له تحقيق پرته ئې له ده دفاع کوله، يوه او بل ته به ورتلل، دلته، هلته به مجلسونه او مشورې کېدې چې قضيه د غله په ګټه حل

و فصل شي، نږدې وه د يهودي په خلاف فيصله وشي، چې دا آيتونه نازل شول، په دې مبارکو آيتونو کې د داسې قضاياوو په اړه پيغمبر عليه السلام او د ده له لارې مسلمانانو ته لاندې مهمې لارښوونې وشوې:

- دا په حقيقت ولاړ کتاب دئ، حق او حقيقت په دې کتاب کې راخلاصه شوی، حق به له دې کتاب پرته په بل څه او بل ځای کې نه لټوئ.
- الله تعالی دا کتاب د دې لپاره نازل کړی چې د خلکو ترمنځ ټول منازعات د دې په رڼا کې او همغسې حل و فصل شي چې الله تعالی تاسو ته درښودلي.
- له خائن به دفاع نه کوئ.
- که داسې غلطي درنه وشوه له الله ژر بخښنه وغواړئ.
- د هغه چا په ګټه مجادله مه کوئ چې له ځان سره خيانت کوي، الله ګنهګار او خائن نه خوښوي، تاسو به هم ترې کرکه لرئ.
- په کار دا ده چې د ګناه په هر کار کې تر خلکو د مخه له الله تعالی شرم او حياء وکړئ، د دې په ځای چې له خلکو ئې پټوئ له الله ئې په نه کولو سره پټ کړئ.
- د ناروا کارونو لپاره جرګې او مرکې مه کوئ او له داسې ويناوو ډډه وکړئ چې الله ئې نه خوښوي.
- نه مو وينا له الله تعالی پټه پاتې کېږي او نه مو عمل، هم مو وينا اوري او هم مو د عمل څارنه کوي.
- ستاسو دا ناحقه دفاع دوی ته هيڅ ګټه نه شي رسولی، که په دنيا کې څوک دفاع ترې وکړي، د قيامت په ورځ به ئې مدافع او وکيل څوک وي؟
- دا کتاب پيغمبر عليه السلام ته راغلی تر څو د خلکو ترمنځ د دې کتاب له مخې حکم وکړي، د هغوی شخړې او منازعات حل و فصل کړي، يعني دا کتاب د تحاکم لپاره او د دې لپاره راغلی چې د حکميت، قضاوت او د هرې پرېکړې او فيصلې لپاره وروستۍ مرجع وي.

قرآن فرمايي: چا چې په دې کتاب حکم ونه کړ کافر دئ:

﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَا ٱلتَّوۡرَىٰةَ فِيهَا هُدٗى وَنُورٞۚ يَحۡكُمُ بِهَا ٱلنَّبِيُّونَ ٱلَّذِينَ أَسۡلَمُواْ لِلَّذِينَ هَادُواْ وَٱلرَّبَّٰنِيُّونَ وَٱلۡأَحۡبَارُ بِمَا ٱسۡتُحۡفِظُواْ مِن كِتَٰبِ ٱللَّهِ وَكَانُواْ عَلَيۡهِ شُهَدَآءَۚ فَلَا تَخۡشَوُاْ ٱلنَّاسَ وَٱخۡشَوۡنِ وَلَا تَشۡتَرُواْ بِـَٔايَٰتِي ثَمَنٗا قَلِيلٗاۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡكَٰفِرُونَ﴾ المائده:٤٤

يقيناً چي دا تورات مو نازل کړ چي په هغه کي لارښوونه او رڼا ده، په دې سره هم هغو پيغمبرانو يهودانو ته پرېکړي اورولې چي مسلمانان ول او هم خدای پالونکو او علماوو په هغه څه چي د الله له کتابه ئې په حفاظت ګمارل شوي وو او پرې شاهدان ول، نو له خلکو مه وېرېږئ او له ما ووېرېږئ او زما پر آيتونو ناڅيزه بيع مه پېرئ او چا چي په ماانزل الله حکم ونکړ نو همدا دوی کافران دي.

په دې مبارکو آيتونو کي لاندي لارښووني مور ته شوې:

- تورات يو لارښود الهي کتاب وو چي خلك ئې له تيارو ايستل او د نجات او سعادت روښانه لار ئې ورښوده.
- خدای او د ده دين ته منقاد انبياوو د يهودو تر منځ د دغه کتاب مطابق پرېکړي کولې. د يهودو خدای پالو علماوو او مذهبي شخصيتونو هم د دوی ترمنځ د دغه کتاب احکام پلي کول، په خپله هم د دې کتاب ساتونکي او د پلي کولو ئې عملي بېلګي ول، عملاً ورته منقاد ول او د دوی په عملي ژوند باندي دي کتاب داسي سيوری غوړولی وو چي د هر چا تر سترګو کېدو.
- تاسو هم بايد د مخکنيو انبياوو او خدای پالو علماوو په څېر عمل وکړئ، د خلکو له وېري او د دنيايي ګټي په طمع الهي احکام شا ته مه غورځوئ.
- څوك چي د الله تعالی له لوري د لېږل شوي کتاب مطابق حکم ونه کړي کافر دئ، د الله تعالی په نزد ئې د ايمان ادعاء هيڅ اعتبار او وزن نه لري.

په بل آيت کي په دې اړه داسي ويل شوي:

﴿وَكَتَبۡنَا عَلَيۡهِمۡ فِيهَآ أَنَّ ٱلنَّفۡسَ بِٱلنَّفۡسِ وَٱلۡعَيۡنَ بِٱلۡعَيۡنِ وَٱلۡأَنفَ بِٱلۡأَنفِ

وَٱلۡأُذُنَ بِٱلۡأُذُنِ وَٱلسِّنَّ بِٱلسِّنِّ وَٱلۡجُرُوحَ قِصَاصٞۚ فَمَن تَصَدَّقَ بِهِۦ فَهُوَ كَفَّارَةٞ لَّهُۥۚ وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ٤٥ المائده: ٤٥

... او چا چي په ماانزل الله حکم ونکړ همدا دوی ظالمان دي.

او همدغه مطلب په بل آيت کې په دغو الفاظو راغلی:

... وَمَن لَّمۡ يَحۡكُم بِمَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ فَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلۡفَٰسِقُونَ ٤٧ المائده: ٤٧

... او څوك چي په ما انزل الله حکم ونکړي نو همدا دوی فاسقان دي.

په مخکني آيت کې ويل شوي چي څوك د الله تعالی له لوري د ليږل شوي کتاب مطابق حکم ونه کړي کافر دئ، وروسته ويل شوي چي ظالم دئ او دلته ويل شوي چي فاسق دئ، د دې معنی څه ده؟ کوم يوه ته ئې کافر ويلی شو او چا ته ئې ظالم او فاسق؟ ځيني مفسرين دا درې حکمه کفارو ته راجع ګڼي، ځيني ئې د شخص په عقيدې پوري مربوط بولي او وايي چي که په ما انزل الله باور ونه لري کافر دئ، که باور ولري او حکم پرې نه کوي نو ظالم او فاسق دئ، خو که لږ غور وکړو دا راته څرګندېږي چي حکم او قضاوت يا په اعتقادي مسائلو پوري مربوط وي، يا په حقوقي او يا په اخلاقي مسائلو پوري، که څوك په اعتقادي مسائلو کې په ما أنزل الله حکم ونکړي کافر کېږي، پر حقيقت به پرده اچوي او د هغه خلاف به حکم کوي، که په حقوقي قضاياوو کې په ما أنزل الله حکم ونکړي خامخا به ظلم وکړي او د چا حق به تلف کړي او که په اخلاقي مسائلو کې په ما أنزل الله حکم ونکړي خامخا به اخلاقي حدود تر پښو لاندي کړي او فاسق به شي. دې ته مو بايد پام وي چي قرآن د هغه چا ايمان هم د اعتبار وړ نه ګڼي چي د حکميت لپاره طاغوتي محکمې ته رجوع کوي، فرمايي:

أَلَمۡ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ يَزۡعُمُونَ أَنَّهُمۡ ءَامَنُواْ بِمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ وَمَآ أُنزِلَ مِن قَبۡلِكَ يُرِيدُونَ أَن يَتَحَاكَمُوٓاْ إِلَى ٱلطَّٰغُوتِ وَقَدۡ أُمِرُوٓاْ أَن يَكۡفُرُواْ بِهِۦۖ وَيُرِيدُ ٱلشَّيۡطَٰنُ أَن يُضِلَّهُمۡ ضَلَٰلَۢا بَعِيدٗا ٦٠ النساء: ٦٠

آيا هغه دي ونه ليدل چي گمان کوي هم پر هغه څه ايمان لري چي پر تا نازل شوي او هم پر هغه څه چي له تا  مخکي نازل شوي، خو غواړي چي د تحاکم لپاره طاغوت ته ورشي، حال دا چي ورته امر شوی چي له هغه به انکار کوي او شيطان غواړي چي په ژوري تېروتني سره ئې تېرباسي.

د دې آيت له مخي د هغه چا د ايمان دعوی د منلو نه ده چي طاغوت ته خپلي شخړي راجع کوي، ځوك چي د طاغوت واکمنۍ ته غاړه ږدي او د خپلو مشاجراتو په اړه د هغه پرېکړي مني، هغه سخت تېروتی، شيطان غولولی، د ايمان دعوی ئې د اعتبار وړ نه ده، حتی که په ځان ئې دا گمان هم وي چي هم پر قرآن ايمان لري او هم پر مخکنيو کتابونو. تر څو چي ته له طاغوت انکار ونکړې الله تعالی ستا ايمان نه قبلوي.

همداراز قرآن په ډېر تأکيد سره وايي چي د هغه چا ايمان هيڅ ارزښت نه لري چي پيغمبر عليه السلام او د ده په لاس لېږل شوی دين د حکميت يوازينۍ مرجع نه گڼي، فرمايي:

فَلَا وَرَبِّكَ لَا يُؤْمِنُونَ حَتَّىٰ يُحَكِّمُوكَ فِيمَا شَجَرَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ لَا يَجِدُواْ فِيٓ أَنفُسِهِمْ حَرَجًا مِّمَّا قَضَيْتَ وَيُسَلِّمُواْ تَسْلِيمًا ٦٥ النساء: ٦٥

نو نه؛ ستا په رب قسم چي تر هغه ئې ايمان نه دئ راوړی چي تا په خپلمنځيو شخړو کي حکم ونه گرځوي، بيا ستا د پرېکړي په اړه په خپلو زړونو کي تنگوالی ونه مومي او په بشپړه توگه تسليم نه شي.

په دې آيت کي پيغمبر عليه السلام ته ويل شوي: ترڅو چي د ايمان مدعيان تا په خپلو شخړو کي حکم ونه نيسي او بيا ستا په پرېکړي راضي نه شي او په خپلو زړونو کي هيڅ حرج احساس نه کړي او عملاً انقياد ونکړي، مؤمنان نه شي بلل کېدی او د ايمان ادعاء ئې نه شي قبلېدی. له دې آيت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي د ايمان د قبلېدو لاندي شرائط دي:

- شخړي او منازعات شريعت ته محول کول.
- د اسلام په هري پرېکړي رضايت.

- او هر حکم ته ئې عملاً غاړه اېښودل.

د دې آيتونو په رڼا کې قضاوت کولی شو چې د قرآن پرېکړه به د هغه چا په اړه څه وي چې په طاغوتي محکمې کې ناست دئ او د ما أنزل الله خلاف حکم کوي؟ دا په هر صورت کې هم کافر دئ، هم ظالم دئ او هم فاسق.

## ټول کتاب د ټول ژوند لارښود

پر کتاب د ايمان بله تقاضا دا ده چې ټول کتاب به زموږ د ژوند په ټولو ابعادو او اړخونو حکومت کوي، تجزيه به نه راولو، کتاب به په څو برخو نه وېشو، داسې نه چې يا خپل ژوند يا خپل ماحول او محيط او اجتماع په داسې بېلو بېلو برخو ووېشو چې په ځينو برخو ئې د الله دين حاکم وي او په ځينو نورو ئې له الهي کتابه پرته بل دين، قانون، ضابطه او نظام او يا دا چې د خپل ذهن، خيال، تشخيص او هوس په اساس عمل وکړو، که په رښتيا د الله تعالی پر کتاب ايمان لرو نو بايد زموږ د ژوند په ټولو ابعادو کې دين حاکم وي. قرآن په دې ارتباط فرمايي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ ٱدْخُلُوا۟ فِى ٱلسِّلْمِ كَآفَّةً وَلَا تَتَّبِعُوا۟ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيْطَـٰنِ ۚ إِنَّهُۥ لَكُمْ عَدُوٌّ مُّبِينٌ ٢٠٨ فَإِن زَلَلْتُم مِّنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْكُمُ ٱلْبَيِّنَـٰتُ فَٱعْلَمُوٓا۟ أَنَّ ٱللَّهَ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ٢٠٩ البقره: ٢٠٨-٢٠٩

اې مؤمنانو! په اسلام کې په مکمله توګه ننوځئ او د شيطان په پلونو پسې مه ځئ، هغه خو له شکه پرته ستاسو څرګند دښمن دئ. خو که له هغه وروسته چې څرګندې نښې درته راغلې وښوېدئ، نو پوه شئ چې الله باحکمته عزتمن دئ.

يعني په اسلام کې به په کامله توګه داخلېږئ، د ژوند هيڅ برخه مو بايد له اسلام بهر پاته نه شي، يو ګام به هم د شيطان پر پله نه ږدئ، په هيڅ څه کې به د ده متابعت نه کوئ، هغه به د ځان دښمن ګڼئ او که وښويېدئ نو پوه شئ چې الله هم د عزت او غلبې خاوند دئ او هم حکيم دئ، کولی شي او پوهېږي چې څنګه له خپل دين دفاع وکړي، ستاسو ښويېدل ده او د ده دين ته تاوان نه شي رسولی.

چا چي دين ته په کامله توګه رجوع ونه کړه او په بشپړه توګه په کې داخل نشو، په ځينو قضاياوو کې ئې دين ته رجوع کوله او په ځينو نورو کې ئې هغه ته شا کوله، نو نه يوازې دا چې د ده ايمان څه ارزښت او اعتبار نه لري بلکې قرآن د هغه په اړه فرمايي چې په دنيا کې به له رسوايۍ سره مخامخ کېږي او په آخرت کې به د شديد عذاب په لوري درومي، فرمايي:

... أَفَتُؤۡمِنُونَ بِبَعۡضِ ٱلۡكِتَٰبِ وَتَكۡفُرُونَ بِبَعۡضٖۚ فَمَا جَزَآءُ مَن يَفۡعَلُ ذَٰلِكَ مِنكُمۡ إِلَّا خِزۡيٞ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يُرَدُّونَ إِلَىٰٓ أَشَدِّ ٱلۡعَذَابِۗ وَمَا ٱللَّهُ بِغَٰفِلٍ عَمَّا تَعۡمَلُونَ ٨٥ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشۡتَرَوُاْ ٱلۡحَيَوٰةَ ٱلدُّنۡيَا بِٱلۡأٓخِرَةِۖ فَلَا يُخَفَّفُ عَنۡهُمُ ٱلۡعَذَابُ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ٨٦ البقره:٨٥-٨٦

... آيا د کتاب په يوې برخې ايمان راوړئ او په بلې برخې ئې کافران کېږئ؟! او له تاسو چې هرڅوك دا کار وکړي نو سزا ئې په دنيا کې له سپکاوي پرته بل څه نه ده او د قيامت په ورځ به د شديد عذاب په لور ګرځول کېږي او الله له هغه څه چې تاسو ئې کوئ غافل نه دئ. دا همغه خلك دي چې دنيايي ژوند ئې د آخرت په بيع وپېرو، نو نه به عذاب ترې سپك کړی شي او نه به ئې مرسته وشي.

دا مبارك آيتونه له الهي کتاب سره د مخکنيو اهل کتابو چلن زموږ مخې ته ږدي او وايي چې دوی د کتاب په ځينو برخو عمل کولو او په ځينو نه، يوه بېلګه ئې دا چې د خپل قوم پر بې وسه او بې وزلو به ئې ظلمونه کول، له خپل کور کلي به ئې ايستل، د دوی د وينو له تويولو ئې هم ډډه نه کوله، خو چې کله به د بل په لاس کې اسير پرېوتل نو د هغوی د ژغورنې لپاره به ئې بسپنې راټولولې، دا کار به ئې د خپل قومي تعصب په اساس کولو خو هغه ته به ئې ديني او مذهبي رنګ ورکاوو، نو ځکه الله تعالی هغوی ته فرمايي: آيا د کتاب په يوې برخې ايمان راوړئ او په بلې برخې ئې کافران کېږئ؟!

دلته دا خبره هم د زيات دقت وړ ده چې په کتاب عمل او نه عمل ئې پر کتاب له ايمان او کفر سره مترادف ګڼلی، د دې معنی دا ده چې پر کتاب د ايمان لومړنۍ

او اساسي غوښتنه پر هغه عمل کول دي، پر کتاب د هغه چا د ایمان ادعاء دروغجنه ده چي عمل پرې نه کوي.

دا آیت مونږ ته دا هم راښیي چي د یوه دیندار ولس د ذلت او سپکاوي ستر عامل دا وي چي د کتاب پر یوې برخي عمل کوي او بله ئې شا ته غورځوي. همدا راز مونږ ته راښیي چي د الله کتاب وېشل، په یوې برخي ئې عمل او بله ئې شا ته غورځول د هغه چا کار دئ چي دین په دنیا پلوري، دوی به په دنیا او آخرت کي له الهي عذاب سره مخامخ وي، هیڅ څه به ئې له دې عذابه ونه ژغوري، هیڅوك او هیڅ څه به ئې مرسته ونشي کړی.

دا آیت موږ ته ښیي چي که نن مسلمانان له ذلت، سپکاوي، رسوایي او محکومیت سره مخامخ دي، وجه ئې دا ده چي دوی د الله کتاب تجزیه کړی، په ځینو برخو ایمان لري او په هغه عمل کوي او ځینو نورو برخو ته ئې شا کړې، دین ئې یوازي په جومات کي بند کړی، دین به له جوماته بهر د دوی په سیاست، اقتصاد او اجتماعي مناسباتو، په داخلي او خارجي سیاست کي، په سوله او په جنګ کي مداخله نه کوي، صرف د جومات څو شېبې به د دین په رڼا کي تېروي، د دوی لپاره دین یعني روژه، لمونځ، زکات، حج او دا چي نکاح به ئې د دین مطابق ترسره کېږي او مړي به ئې د دین مطابق دفن کېږي، د ژوند له نورو چارو سره به غرض نه کوي، د همدې لپاره الله تعالی له سپکاوي او ذلت سره مخامخ کړي. د قرآن دا لارښوونه موږ ته وایي: که چېري تاسو د مسلمانانو یوه ټولنه په ذلت، محکومیت او رسوایۍ کي وګورئ، په داسي حال کي چي الله تعالی له دوی سره د عزت، برلاسي، بریا او سرلوړي ژوند وعده کړې، نو وجه ئې د خدای د کتاب تجزیه، په ځینو برخو عمل او نورو برخو ته شا کول دي.

الله تعالی د اهل کتابو د ذلت او رسوایۍ د عواملو د توضیح په ترڅ کي د دوی د علماوو حالت ته اشاره کوي او فرمایي:

أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ نَصِيبًا مِّنَ ٱلْكِتَـٰبِ يُدْعَوْنَ إِلَىٰ كِتَـٰبِ ٱللَّهِ لِيَحْكُمَ بَيْنَهُمْ ثُمَّ يَتَوَلَّىٰ فَرِيقٌ مِّنْهُمْ وَهُم مُّعْرِضُونَ ٢٣ آل عمران:٢٣

آیا هغو ته دي پام نه دئ چي د کتاب څه برخه ورکړی شوې، د کتاب په لوري بلل کېږي ترڅو د دوی ترمنځ پرېکړه وکړي، خو یوه ډله ئې ډډه کوي، په داسي حال کي چي عمداً اعراض کوونکي وي.

دلته د دوی د علماوو په اړه بحث شوی، هغه چي د کتاب په څه برخي پوه شوي، د کتاب څه محدود او لږ علم ئې په برخه شوی، خو کله چي د الله کتاب ته د خپلو شخړو او منازعاتو د حل و فصل لپاره بلنه ورکړی شي او کله چي ورته وویل شي چي د الله په کتاب عمل وکړئ، له دې اعراض کوي او مخ اړوي.

د کوم ولس د علماوو حالت چي داسي وي، د عوامو به ئې څه حال وي؟ له دې کبله الله تعالی له هغه ذلت سره مخامخ کړل، له دوی ئې د امامت منصب واخیست او هغه ئې بل قوم ته وسپارلو.

د الحدید په سوره کي دې مطلب ته داسي اشاره شوې:

لَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا رُسُلَنَا بِٱلۡبَيِّنَٰتِ وَأَنزَلۡنَا مَعَهُمُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡمِيزَانَ لِيَقُومَ ٱلنَّاسُ بِٱلۡقِسۡطِۖ وَأَنزَلۡنَا ٱلۡحَدِيدَ فِيهِ بَأۡسٞ شَدِيدٞ وَمَنَٰفِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعۡلَمَ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥ وَرُسُلَهُۥ بِٱلۡغَيۡبِۚ إِنَّ ٱللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٞ ٢٥ الحدید:٢٥

یقیناً چي موږ خپل پیغمبر ان له بیناتو سره لېږلي او له دوی سره مو کتاب او میزان لېږلی تر څو خلك په قسط قائم شي (عدل او قسط قائم او حاکم کړي) او اوسپنه مو ولېږله چي په هغې کي شدید جنگ دئ او خلکو ته ځیني گټي او تر څو الله هغه څوك معلوم کړي چي په غیاب کي د ده او د ده د پیغمبرانو مرسته کوي، یقیناً چي الله قوي او عزیز دئ.

دا دئ گورئ چي الله تعالی پیغمبران علیهم السلام او د دوی په لاس خپل کتابونه د دې لپاره لېږي چي خلك عدل او قسط قائم کړي، دا د حکمیت لپاره او د قسط او عدل قائمولو لپاره نازل شوي، نه د تبرك لپاره چي په جامو کي ئې ونغاړې او په تاخچو کي ئې کېږدئ او هغه د تبرك یوه وسیله وگڼې او د قسم یوه ذریعه.

قرآن اهل کتابو ته فرمایي: تر څو چي تاسو په تورات او انجیل عمل ونه کړئ او

د تورات او انجيل احکام په خپلمنځيو شخړو، منازعاتو او معاملاتو کې حاکم او قائم نه کړئ، تاسو نه دين لرئ او نه په کوم کتاب ايمان، د ايمان دعوی مو دروغجنه ده، د الله تعالی په وړاندې ستاسو د ايمان دعوی هيڅ ارزښت او قيمت نه لري.

قُلْ يَـٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَـٰبِ لَسْتُمْ عَلَىٰ شَىْءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُوا۟ ٱلتَّوْرَىٰةَ وَٱلْإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيْكُم مِّن رَّبِّكُمْ ۗ وَلَيَزِيدَنَّ كَثِيرًا مِّنْهُم مَّآ أُنزِلَ إِلَيْكَ مِن رَّبِّكَ طُغْيَـٰنًا وَكُفْرًا ۖ فَلَا تَأْسَ عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَـٰفِرِينَ ٦٨ المائده:٦٨

ورته ووايه: اې اهل کتابو! تر څو تورات، انجيل او هغه څه چې د خپل رب له لوري درته نازل شوي پلي نکړئ، په هيڅ څه نه ياست او هغه څه به حتماً د دوی د ډېرو طغيان او کفر ورزيات کړي چې ستا د رب له لوري درته نازل شوی، نو د کافرانو پر دې قوم هيڅ تأسف مه کوه.

دا مبارك آيت په پرېکنده او قاطع الفاظو فيصله کوي چې د اهل کتابو د ايمان دعوی يوازې په هغه صورت کې ارزښت لري چې د تورات او انجيل احکام پلي کړي، له دې پرته ئې نه پر الله تعالی د ايمان دعوی د منلو وړ ده او نه په الهي کتابونو د ايمان دعوی، په الهي احکامو د نه عمل کولو په صورت کې دوی اصلاً هيڅ دين او مذهب نلري او د دې قاطع الهي حکم معنی دا ده چې په الهي کتاب له تمسك او عمل کولو پرته د ديانت، مذهب او پر الله تعالی او پيغمبر ئې د باور دعوی پوچه او بې ارزښته ده.

همداراز دا آيت ښيي چې دا بې دينه او بې مذهبه ټولی به داسې ومومې چې له دعوتگرانو سره ئې د مخالفت لويه وجه دا وي چې هغوی د ماأنزل الله لوري ته بلنه ورکوي، گورې به چې دا دعوت د دوی کفر او طغيان لا زيات کړي. مه د دغو کافرانو په بد حالت تأسف کوه او مه ئې له مخالفتونو څخه مأيوسه کېږه، د دوی له مخالفت سره سره خپل دعوت ته ادامه ورکړه.

## د کتاب تبلیغ

پر کتاب د ایمان بله تقاضا دا ده چې د ایمان خاوندان به نور هم په دې کتاب ایمان راوړو ته رابلي، د کتاب د تبلیغ لپاره به ملا تړي، نوروته به ئې رسوي او له پټولو به ئې ځان ساتي. ځوك چې په کومې عقیدې باور لري، هغه ورته حق برېښي، نو حتماً هڅه کوي چې نور هم خپلې عقیدې ته راوبلي، ځوك چې کوم کتاب او عقیدې ته بلبنه نه ورکوي په حقیقت کې نه عقیده لري او نه په کوم کتاب ایمان. قرآن په دې اړه فرمايي:

وَإِذْ أَخَذَ ٱللَّهُ مِيثَٰقَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْكِتَٰبَ لَتُبَيِّنُنَّهُۥ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُۥ فَنَبَذُوهُ وَرَآءَ ظُهُورِهِمْ وَٱشْتَرَوْاْ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا ۖ فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ ١٨٧ آل عمران: ١٨٧

او کله چې الله له اهل کتابو دا ژمنه ترلاسه کړه چې هرومرو به ئې خلکو ته بیانوئ او نه به ئې پټوئ، خو خپلې شا ته ئې وغورځاوو او ناځیزه بدله ئې پرې وپېرله، څومره بد دئ هغه څه چې دوی ئې پېري.

دا مبارك آیت موږ ته وايي: چا ته چې الله کتاب او د کتاب علم ورکړی دا ژمنه ئې ترې اخیستې ده چې دا کتاب به خلکو ته رسوئ، لارښووني به ئې خلکو ته بیانوئ او هیڅ څه به ئې نه پټوئ، خو د اهل کتابو دین پلورونکو مذهبي مشرانو هم د الله کتاب شا ته وغورځاوو او هم ئې خپله ژمنه هېره کړه، دین ئې په دنيا خرڅ کړ، هغه هم ډېر ارزان، په ډېره ناځیزه بیع، د ظالمانو په ګټه ئې فتواګانې ورکړې او خلك ئې له دین بې خبره پرېښودل.

همدا راز فرمايي:

إِنَّ ٱلَّذِينَ يَكْتُمُونَ مَآ أَنزَلَ ٱللَّهُ مِنَ ٱلْكِتَٰبِ وَيَشْتَرُونَ بِهِۦ ثَمَنًا قَلِيلًا أُوْلَٰٓئِكَ مَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ إِلَّا ٱلنَّارَ وَلَا يُكَلِّمُهُمُ ٱللَّهُ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ وَلَا يُزَكِّيهِمْ وَلَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ ١٧٤ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلَّذِينَ ٱشْتَرَوُاْ ٱلضَّلَٰلَةَ بِٱلْهُدَىٰ

وَٱلْعَذَابَ بِٱلْمَغْفِرَةِۚ فَمَآ أَصْبَرَهُمْ عَلَى ٱلنَّارِ ١٧٥ ذَٰلِكَ بِأَنَّ ٱللَّهَ نَزَّلَ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّۗ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُواْ فِي ٱلْكِتَٰبِ لَفِي شِقَاقٍۭ بَعِيدٍ ١٧٦ البقره: ١٧٤-١٧٦

يقيناً هغه کسان چې د الله کوم نازل کړی کتاب پټوي او لږ بدله پرې پېرې، نو دا ډله له اور پرته بل څه په خپلو ګېډو کې نه خوري ( نه اچوي) او الله به نه د قيامت په ورځ ورسره خبرې کوي او نه به ئې پاکوي او دوی ته به دردناك عذاب وي. دا هماغه دي چې بې لاريتوب ئې په هدايت او عذاب ئې په مغفرت وپېرلو، نو څه شي په اور باندې صابر کړل؟! دا له دې کبله چې الله دا کتاب په حقه نازل کړی او چا چې په دې کتاب کې اختلاف وکړ نو دوی په ژور اختلاف کې دي.

يعني چا چې د الله د کتاب له بيانولو ډډه وکړه، د کومې دنيايي ګټې لپاره ئې د الله د کتاب کوم څه پټ کړل، د ظلم او فساد په خلاف ئې غږ اوچت نه کړ، له جهل او شرك د خلکو د ژغورنې لپاره ئې جهاد ونکړ، يا د دې لپاره چې ژوند او مال متاع ئې په خطر کې ونه لوېږي او يا د دې لپاره چې په دې کتمان سره له ظالمو واکمنانو څه ترلاسه کړي، نو د قيامت په ورځ به الله تعالی له دوی سره تکلم نه کوي، همغسې لکه چې دوی د الله په کتاب تکلم نه وو کړی، له ګناه به ئې پاك نه کړي، همغسې لکه چې دوی له فساد سره مقابله نه وه کړې او ټولنه ئې له ظلم او شرك نه وه پاکه کړې، دوی ته به دردناك عذاب وي، همغسې لکه چې دوی مظلومان په دردناکو عذابونو کې يوازې پرېښې وو، څه چې په دې سکوت او مداهنت ترلاسه کوي په اصل کې د دوزخ اور دئ چې په خپلې ګېډې کې ئې اچوي، دوی د هدايت په ځای ضلالت غوره کړی او د مغفرت په ځای الهي عذاب، د الله له کتاب څخه د دوی هر اختلاف له حق او حقيقت څخه اختلاف دئ.

همدا راز فرمايي:

يَٰٓأَهْلَ ٱلْكِتَٰبِ لِمَ تَلْبِسُونَ ٱلْحَقَّ بِٱلْبَٰطِلِ وَتَكْتُمُونَ ٱلْحَقَّ وَأَنتُمْ تَعْلَمُونَ ٧١

آل عمران:٧١

اې اهل کتابو! ولې حق له باطل سره خلطوئ، (باطل ته د حق جامه وراغوندئ) او حق پټوئ، په داسې حال کې چې پوهېږئ.

دوی به کله په خپلو غلطو توجیهاتو سره حق ته د باطل جامه وراغوندي او کله به باطل ته د حق او که په خپلو غلطو او دروغجنو توجیهاتو، تأویلاتو په دې موفق نه شول چې باطل حق او حق باطل ثابت کړي، نو حق به پټوي، دا کار په داسې حال کې کوي چې پوهېږي حق کوم دئ او باطل کوم، په ناپوهۍ سره دا کار نه کوي، د غرض او مرض له کبله ئې کوي، اخیستل شوي او استخدام شوي، د خپل مزد او اجورې په مقابل کې دا کار کوي.

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، أشهد أن لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنْتَ أَسْتَغْفِرُكَ وَأَتُوبُ إِلَيْكَ